

Ketabton.com

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library




Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

# ستا د ځوانۍ تصویر په خوب اوده دے

اظهار الله اظهار

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

## پخپله مینه باندې حق دے زما

کتاب * ستا دځوانۍ تصویر په خوب اوده دے
مصنّف * اظهار الله اظهار
ترتیب * محمد ایاز غزل، شکیل احمد نایاب
اهتمام * پروفیسر شوکت الله حسن، محمد داوُد کمال محسن
پروف ریډنګ * نوشاد حکیم، پروفیسر سید ایوب شاه
روم اشاعت * جنوري ۲۰۰۳ء
پریس * انصاري پرنټنګ پریس محله جنګي پېښور
کتابت * ارشاد خان "پښتو اکېډیمي پېښور
قیمت * دوسل روپۍ (۲۰۰)

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# انتساب

دَ خپل عظیم پلار پروفیسر انعام الله جانٔ قیسؔ
او دَ خپلې درنې مـور په نومـونو چې
ساه ساه ئې راته دَ جنتونو نکهتـونه
راسپړي . او نظر نظر ئې راته په لارو
کښې دَ رفعتونو اسمانونه او دَ اسمانونو
رفعتونه غوړوي

اظهارالله اظهار

Scanned by CamScanner

# دَ هایکو

## هیئتي رنګونه، موضوعات او پښتنه هایکو

لا ړله هایکو خپلو ښائسته خویونو او سپېڅلو رویو پښتنه کړه۔ دې زړهٔ راښکونکې ادبي صنف دومره لږ وخت کښې دَ پښتون قام دَ اجتماعي لاشعور مرکز ته ځان ور اورسولو چې دَ شعري اصنافو دَ ارتقاء په تاریخ کښې ئې خیال کول هم یو خوب او خیال ګڼلے کېږي۔ دَ کومو صفتونو په بنیاد چې یوه معاشره دَ خپل وجود جواز راپېدا کوي۔ هغه اوس کم او زیات دَ پښتنې هایکو په خټه کښې اغږلے شوې ښکاري۔ دغه وجه ده۔ چې هایکو په یوه مرحله کښې هم دَ پښتون قام نه ځان په فاصله نهٔ دے ساتلے۔ بلکه په نره دَ دوې په غم ښادۍ او مړې ژوندې کښې شریکه شوې ده۔ او دَ پښتنو دَ ژوند ژواک نه ئې نهٔ یوازې ځان بېل ساتلے دے۔ بلکه قدم په قدم ئې دَ پښتنې سیمې دَ ژوندې روایتونو دَ رنو قدرونو، سماجي غوښتنو، تهذیبي رویو، اوسې ژوند او ثقافتي هلو ځلو نه دَ خپل زړهٔ

ketabton.com - The Digital Library



درزاکاني جوړې کړې دي . او اوس دَ هایکو په ساده ساده کیني دَ پښتنې خاورې وړې نغمه نغمه راپورته کېږي او تېپه تېپه خورېږي.

لنډه دا چې پښتنې معاشره کښې دَ ژبړون نه را واخله تر دې ساعته پورې څومره بدلون راغلے دے هایکو ترې په مکینز مکینز خپله غېږه او په هنر هنر خپلې مرمرینې لیچې راچاپېره کړې دي . او په خپله زورینه لوپټه ئې ورله شمله هسکه ساتلې ده . ځکه خو دَ ځنو بناغلیو له اړخه نه دَ پښتنې هایکو غندنه بېځي داسې ښکاري لکه سړے چې خپلو پښو له تبر را اوبخوي .

دَ هایکو په موضوعاتي ارتقاء دَ خبرو کولو نه وړاندې دا لازمي ضرورت محسوسېږي چې دَ هایکو په هیئتي بدلون او پرمختګ دې هم رڼا اوغورځولے شي . هایکو چې دَ جاپان دَ اوږد نظم " هایکائي " نه ځان را بېل کړو نوکېنو شکلونو کښې ئې ځان څرګند کړو . او په خارجي سطحه ئې خپل کښې شمېره تجرباتي تصویرونه رابنکل . ولې دَ ځینو تصویرونو تجربې او دَ ځینو تجربو تصویرونه پکښې لکه دَ کاڼي دَ بُت په ځاے ولاړ پاتې شو . او دَ ارتقاء هیڅ تحرک او تموج پکښې راپیدا نهٔ شو . چې حیثیت ئې اوس دَ تاریخي حوالو نه سېوا هیڅ

Scanned by CamScanner

هم نهٔ دے پاتې شوے. ولې ځنې ارخونه ئې نهٔ فقط ارتقاء سره مخ شو بلکه دَ خپل پرمختګ سفر دَ دنیا ګوټ ګوټ ته ور اورسول. خو چونکه دغه صورتونه هم دَ دنیا نورو ژبو او ادبیاتو سل په سله خپل نهٔ کړل او دَ خپل مزاج او استعداد تر مخه ئې پکښې ضروري بدلون او خپل ځان سره مناسب سمون راوستلو ځکه نو په هیئتي سطحه ئې نور هم ګڼ اشکال او تماثیل مخې ته راوړل چې دَ وخت بدلېدونکیو ساعتونو کښې ځینو خپل ځانونه ژوندي اوساتل او ځینو لکه دَ سمندر دَ موجونو دَ سفر په لاره کښې خپل وجود او بایئللو.

دَ هائیکو دَ هیئتي تاریخ احاطه کول یقیناً یو ډېر وخت غوښتونکے عمل دے. ځکه نو دلته دَ عالمي ادبیاتو نه او خاصکر دَ مشرقي ادب نه دَ هائیکو یو څو نمائنده هیئتي نمونې وړاندې کولے شي.

دَ هائیکو دَ درې مصرعه ایز تعین نه وړاندې په عالمي ادب کښې دَ یو مصرعي هائیکو کانې، دغه رنګ دَ دوو مصرعو هائیکو کانو هم سرونه راپورته کړل. او تر دې ساعته پکښې طبع ازمایئ کېږي. خو داسې صورتونه دَ هائیکو بنیادي هیولې سره زیات سمون نهٔ خوري. لهٰذا دَ بقاء په حقله ئې څهٔ واثیل هم ډېر ګرانه دهٔ.

ketabton.com - The Digital Library



البته دَ نموني په ډول ترې نه مثالونه وړاندې کېږي.

"دَ يوې مصرعې هايکوګانې"

ترجمه ۱: يو لولکۍ ده چې په پارکنګ راکوزېږي کوره

(اليکيسس روتيله)

ترجمه ۲: باران په هره کړکۍ

(کوردن ډين سوويل)

"ع ۳: دَ کره مار دَ سر اسمان دے زما

(محمد اياز غزل)

"ع ۴: دَ تعبير ونو لار کښې ورک شمه زۀ

(شکيل احمد نایاب)

"ع ۵: خو پلوشو زما دَ سترګو نظر هم يوړلو

(اظهار الله اظهار)

په دې ټولو مثالونو کښې دَ هايکو داخلي مزاج پټ پښتو نې کوي. تصويرونه پکښې جوړېږي - دَ فطرت حادثې او دَ تخيل رنګونه پکښې ترغاړه اوځي. ولې دَ شعور په سمندر کښې هغسې غورځنګ نۀ راولي. دغه سبب دے چې دلته تصويرونه يو اځې تصويرونه او عکسونه دي. حرکت هم پکښې محسوسېږي. خو دَ فکر وړاندې منزل او دَ نتيجې کوټلې مرحلې ته ذهن ډېر په ګرانه ور رسوي. او په خپله داسې وائي چې زمونږ دَ فني تکميل زاويې په نامعلومه لاره کښې

ketabton.com - The Digital Library



وړکي شوي دي. موږ نیمګړې نیمه خوا یو.

ع۲
"دوه مصرعه ایزې هایکوګانې"

ترجمه ۱: دَ جنورۍ ورمبے تاریخ دے
دَ ډمې ګوتې لا تر اوسه یخې دینه
(باب بولډ مین)

ع۲: ستا لوښته که مې رانه وړه
زهٔ به خپل ځان په اباسین لاهو کومه
(اظهار الله اظهار)

ع۳: ما باندې ستا سترګې بلا ګرانې دي!
ګنې نو اوربه په ټول کلي پورې کړے وو ما
(اظهار الله اظهار)

کېدے شي دلته څنې اعتراض کوونکې دا هم اووائي چې ورمبنۍ دوه هایکوګانې خو دَ "یا قربان" دَ التزام نه یو خوا ته بېخي دَ پښتو ټپې دي. اوکه چرته هایکو داسې وي نو بیا ټپه څهٔ بلا ده خو ولې هایکو په خپل ځان کښې دَ پښتو دَ ټپې خوازه هم لري. ځکه نو دَ ابلاغ دَ اسانتیا په خاطر او دَ تفهیم او وضاحت دپاره دَ "باب بولډ مین" دوه مصرعه ایزه هایکو دَ ټپې په هیئت کښې ترجمه کړے شوه. دویم مثال دَ ورمبي په تتبع او مرسته کښې راوړلے شو البته

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دې همه حواله دَ هایکو او دَ ټپې دَ صنفې تفریق په خیال راوړے شوه. چې ګنې چرته دَ دواړو صنفونو هیئتې امتیاز یو بل کښې ګډ وډ او ورک نشي. او دا هم چې ځنې نادان معترضین په مثال دَ اصل ګمان کښې بیا چرته دَ خپل سر وښتهٔ را اونهٔ شوکوي. او نوي ماتمو نه راجوړ نهٔ کړي.

بهرکیف دوه[2] مصرعه ایزه هایکو دَ یوې مصرعه ایزه هایکو په مقابله کښې زیات فعالیت په دې لړې چې تصویر دَ تصور په لاره روانه وې ولې پښتو ادب سره سره په عالمي ادب کښې دَ درې[3] مصرعه ایزه هایکو دَ تخلیق رجحان منګولې ګلکوې ګیا دے ځکه نو ورو ورو دوه مصرعه ایزو هایکو هم خپل نقشو نه پیکه او تت کړې دي. او دَ سفر نه ئې دَ ستو مانۍ ګردونه راتاؤ شوې دي.

درې مصرعه ایزې هایکوګانې دَ هیئتې تنوع او ساختیاتې اختلاف باوجود خپل حقیقې روح ته زیاتې ورنژدې دي ځکه ئې خو دَ تجرباتې پښو باوجود ښکاره مقبولیت هم موندلے دے. هایکو چې دَ هیئت او ساخت کوم پېژندلې شکلونه ځان سره را اوړلې دي. دلته ترې نه یو څو دَ مثال په طور وړاندې کولے شي. دَ درې مصرعه ایزې هایکو یو قدیم جاپانې شکل

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



اوولس سیلابین شکل دے. په دې کښې اوولس څپې
د ۵ - ۷ - ۵ په ترتیب سره راځي او خپله تخلیقي او
هنري اکائي جوړه وي.
په اردو ژبه کښې د ضرورې ذخافاتو نه یو
طرف ته دا هایکو د "بحر متدارک" دې ارکانو
سره سمه راځي.

فعلن فعلن فع
فعلن فعلن فعلن فع
فعلن فعلن فع

یا د موسیقۍ د دې ارکانو په مرسته سرته رسي.

سارے گاما پا
سارے گاما پا دانې
سارے گاما پا

مثالونه ع ۱:-

خوب مې لیدهٔ څهٔ
نهٔ راته یادېږي اوس
شوے مې تعبیر ته
(قاسم محمود)

ع ۲:- بس شو زما وار
مینه وینې وینې شوه
ورکه مې کړه لار
(نادم خټک)

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



۳۶۔ په تال چې ځانګي
ځني زړه سترې پېغلې
اور ته وردانګي

(اظهارالله اظهار)

۳۷۔ يو خوب او خيال دے
کارغه زده کړے کله
د زرقي چال دے

(اظهارالله اظهار)

دا انداز د پښتو ژبې بنيادي آهنګونو او موسيقي نظام سره سمون نهٔ خوري. لهذا په پښتو ژبه کښې ئې لا تر اوسه د تخليق باوجود هيڅ مقام نهٔ دے تر لاسه کړے. بله دا چې په درېو مصرعو کښې اړو مړو او ولس چې ځايول يا اولس چې په درېو لنډو او بړدو ټاکلے شوو مصرعو کښې بنديواني کول يو طرفته يقيناً يوه هنروري ده ولې هم دغه هنرورۍ د تخليق په فطرت ناروا اثر هم غورځوي. او يو ميکانيکي او مصنوعي فضا راجوړه وي. کم ازکم د پښتو ژبې ترحده خو ددې صورت تصنع کښې هيڅ شک نشته اوس که څوک په دې ترتيب کښې د تخليق صحت په ځائے ساتلے شي. نو بيا خو پکښې هيڅ عيب نشته خو داسې بنکاري چې دا ډېره به مشکله نهٔ شي.

Scanned by CamScanner

دلته دَ درې مصرعه ایزه هایکوګانو یو څو نور
شکلونه هم اووینئ ۔

ع۱ ؛ اوخانده
که خونبه دې وي (۳-۵-۳)
اوژاړه

(شکیل احمد نایاب)

ع۲ :- اومنله
زما خــبره (۳-۵-۳)
دوب به شي

(محمد ایاز غزل)

ع۳ ؛ ستا نه به زار شمه خو
که دغه حال وي ګله (۷-۷-۷)
ستا نه به زار نهٔ شمه

(محمد ایاز غزل)

ع۴ ؛ زما دَ کور بندیان خو دومرهٔ هم خاموشه نهٔ وو
اوس خو زما هاغه معصوم بچې هم حال دا دے چې
زهٔ ئې په زوره تخنووُمه خو خندا نهٔ ورځي
(اقبال حیدر) (۱۶-۱۶-۱۶)

ع۵ ؛ ستورې را نغاړم پلوشې کښې دَ ژوند
ستا ښائسته نوم دَ رنګینو لوګو په وزرو نویکم
چې دَ ورېښو قلم را واخلمه زهٔ
(اقبال حیدر) (۱۱-۱۹-۱۱)

ketabton.com - The Digital Library



۶ ـ دا د سحر خاموشي

خو د بناخونو منځ کښې شور کوي نن
يوه يواځې پانه (۷ - ۱۲ - ۷)
(جې. ډبليو پيکټ)

۷ ـ سيني د پېغلو د لاسونو سره هم پوره شوې
داسې ښکارېږي کښې (۱۶ - ۷ - ۱۶)
يوه پرده باندې ګلونه راتوکېږي رڼي
(روډ ويلموټ)

۸ ـ د لوګونه به ډولې جوړه کړم
زه به رنګونه د سپرلو تول پېجرګه درولم
تا به بوځم لېونې (۱۱ - ۱۶ - ۷)
(اظهار الله اظهار)

۹ ـ ځې رانه مه اړوه
لکه د سپينکي شان د اورنه الوتلې يمه
تا لاله راغلې يمه (۷ - ۱۶ - ۷)
(اظهار الله اظهار)

۱۰ ـ اوګوره

زه د ځيلو سپو رويه اوبو باندې سورلې کوم
تا سره سيالي کوم (۳ - ۱۶ - ۷)
(محمد اياز غزل)

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ع۱۱ : د پوهریانو د ژوندون قصه به تاته کوم

زما جانانه (۱۶ - ۵ - ۲)

## کیسه

(تشکیل احمد نایاب)

دغه رنګ د موضوعاتو یا عنواناتو د لاندې لیکلې شوې هایکوګانې او د مسلسل هایکوګانو مثالونه هم له نظره راتېرېږي چې د تجسس فقدان پکښې محسوسېږي. داسې هایکوګانې قدم په قدم خپله موضوع وړاندې بوځي او د ګڼو تصویرونو رنګونه پکښې د یو مرکزي تصویر څېره رابښکاره کوي خو چونکه داسې هایکوګانې د هایکو جامعیت، اختصار او علامتي پېرايې ته زیان ور رسوي. ځکه ترې عام طور سره تخلیق کوونکي ډډه کوي. او یو بدعت یې ګڼي.

دغه رنګ د نثري نظم په رنګ ځنې تخلیق کوونکیو نثري هایکوګانې هم لیکلې دي. چې په دریو کرښو کښې خپله افسانه سرته رسوي ولې داسې هایکوګانې له آهنګ او غنایت نه معرّا وي ځکه د پښتنو د ذوق تنده پرې نه ماتېږي داسې برېښي چې د نثري نظم په رنګ به پښتانه د نثري هایکو معاني صورت خپلولو ته تیار نشي ولې د موضوع تر څه د نثري هایکوګانو یو څو عکسونه ځکه وړاندې کوله شي چې د هایکو

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



هیئتي سفر انداز ه تر ې هم اوشي . او دَ تاريخي ريکارډ سمون هم سم شي .

"مثالونه"

ع۱ ؛ زهٔ دَ خپل کور په چت ملاست يم
توره شپه ده دَ اسمان ستوري شمارم
خوداسې بنکاري چې ترې ستا غمونه ډېر زيات دي
(شکيل احمد ناياب)

ع۲ ؛ دَ کړه مار دَ پاسه يوسف خان څوک دے
تا نه پته ده چې هغه هم غزل دے
مينه دَ قالبونو پروا داره نهٔ وي
(محمد اياز غزل)

ع۳ ؛ ستوري زما دَ خپو بناپونه دي
دا ټول به زهٔ په يو هنر رايو ځائے کړم
او ستا دَ زنې خال به ترې نه جوړ کړم
(اظهار الله اظهار)

په دې موقع دا صراحت هم ضروري ګڼلے کېږي چې په عالمي ادب کښې همدغه رنګ په مش قي ژبو کښې دَ هائيکو دَ مخلوط بحرونو تخليق هم مخې ته راغلے دے خو پکښې دَ آهنګونو سمون سم نهٔ دے ځکه ئې يواځې په يادولو اکتفا کېږي . مثالونه ئې نهٔ شي وړاندې کولے .

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دا د هایکو د هیئتي سفر یو څو پړاوونه وو. خو څه ته چې پښتنه هایکو وپېژل کېږي. هغه دې ټولو هیئتونو ته ځانته بېل کړه ورکړه او خوند رنګ لري پښتنه هایکو متوازي الاوزان هایکو ده چې هره مصرعه یې بلې سره برابر او په ترنم او اهنګ کښې تړلې شوې وي. چونکه دې هایکو کښې مصرعې لنډې تنګې یا اوږدې لنډېږي نه ځکه یې د پښتنو منصفانه ذوق خوښوي. دا ساختیاتي سلسله د پښتنو د موسیقۍ سره هم سل په سله سمه ده. او حافظه یې هم په پوره تېزۍ قبلوي. خو دلته دا وضاحت هم ضروري دے چې پښتنه هایکو یوازې د درېو برابرو مصرعو تکرار هم نه دے. بلکه د یو خاص یووټس سېلابین بحر د التزام نامه ده. چې د رزمیه بحرونو دې ارکانو سره لږ ډېر مماثلت لري. ارکان دې.

"فاعلاتن مفاعلن فعلن"

په هیئتي اعتبار پښتنه هایکو د خاص یووټس سېلابین ردهم سره ځکه اوتړلې شوه. چې بیرې د پښتو هایکو لیکونکیو ځان ځان ته اجتهاد او اجماع کړې ده. او په پښتو ژبه کښې چې تردې ساعته څومره د هایکوګانو مجموعې مخې ته راغلې دي غالبه او درنه برخه یې هم په دغه خاص اهنګونو کښې وجود موندلے

ketabton.com - The Digital Library



دے. او بيا پرې د پښتنو اولسي ذوق پوره پوره اعتماد هم کړے دے.

د پښتنې هايکو په دغه خاص هيئت کښې چې کومې مجموعې مخې ته راغلي دي. په کښې د ښاغلي اسماعيل گوهر "مسکا" د اظهار الله اظهار "راته غوږ ونو کښې ښکرې شرنگوي" "کاڼي د گل په لاس کښې خوند نه کوي". او دا مجموعه "ستا د ځوانۍ تصوير په خوب اوده دے" دغه رنگ د ښاغلي ډاکټر ديدار يوسفزي "نسکورې لښې" د پروفيسر نواز طائر "خوبونه خپل کلي کښې" د پېغلې ناهيد سحر "خپلو خوبونو له تعبير لټوم" داسې د ښاغلي محمد اياز غزل د هايکو مجموعه "د ښايستونو د صحرا وريځې" او د شکيل احمد ناياب "پلوشې" هم په گوته کړې شوي. چې کښې د تخليق د مرحلونه راتېرې شوي دي.

د هايکو په داسې هيئت د پښتنو تمام درې طبقې متفق دي چې په کښې مشران ځوانان او پېغلې شاملې دي. ځکه دغې اتفاق له د اجتهاد او اجماع نامه ورکول عين روا دارې ده. او دغه خاص يوولس سيلابېزې هايکو گانې پښتنې هايکو گانې کېدل بېخي بې ځايه نه دي. په دې خاص تناظر کښې دا يو څو هايکو گانې اولولئ.

Scanned by CamScanner

۱، زړهٔ مې تنهاکۍ ښې لوخړه اوکړې
پوهږ چې اوښکې توریالۍ دَ وطن
دَ خور دَ سر لوپټه هم خړ شوې
(شکیل احمد نایاب)

۲، یوې کوجرۍ ته ټهکولو ویل
تا به یو ورځې سمندر لاهو کړې
مور دې په پښو کښې اوبهٔ کړوې
(محمد ایاز غزل)

۳، دَ داسې خلقو په ولقه کښې دے ژوند
چې په نصیب ئې دَ سپېړلو زمکه ده
خو بیا هم ځې په اسمان لاړې توکې
(ډاکټر دیدار یوسفزے)

۴، چا راته وے چې دَ سپېرلي ورځو کښې
ټغه تر لرې ګرځې ساکو پسې
ځکه پټې کښې مې شړشم اوکرل
(اسماعیل ګوهر)

۵، دَ هسپتال ټغه منحوسه کړه
مې نهٔ ټس بڼې چې تا ماته اووې
"خپل ځان مې بایلو تهٔ مې اوکتلې"
(پروفیسر محمد نواز طائر)

ketabton.com - The Digital Library



ع۶: دا خندا ګانې ئې فریب وې هسې
دَ وخت مېچنه کښې دَل کېږي مدام
دَ ادم زوېه ماته سپک مه ګوره

(ناهید سحر)

ع۷: لوخې چې کچن کښې ګنده پاتې شي
داشي په ژبه ئې صفا ستره کړي
زما دَ ښځې نه پښو پاکه ده

(ظفر خان ظفر)

ع۸: دَ محبت له عظمتونو نه زار
چې دَ زامنو ئې ودونه جوړ شي
میاندې په سپینو سر ګډا ګانې کوي

(اظهار الله اظهار)

ع۹: په شرق دې اولګې رسمونه دَ بنار
چې دَ کمرې کړکۍ مې بېرته کړله
ما دَ هوسۍ کټ کښې ملو اولیدهٔ

(اظهار الله اظهار)

بهر حال دغه خاص هیئت کښې دننه هم ځنې تجربې په نظم راځي - پورتنې واړه مثالونه دَ معنیٰ هایکوګانو په زمره کښې راځي - خو په دغه معلوم چوکاټ او هیئت کښې مقفیٰ هایکوګانې هم لیکلې شوې دي - چې په درې مصرعو کښې ئې ترتیب او ړې

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



را اوړي یا وړاندې ورستو کېږي. دَ مثال په طور داسې یوولس سیلابیزې مساوي الاوزان هایکوګانې شته چې ورمبنۍ دوه مصرعې ئې په قافیه کښې تړلې شوې دي. او آخري مصرعه ورسره په آهنګ کښې برابره وي خو معنیٰ ئې وي. دغه رنګ اولنۍ او آخرۍ مصرعه دَ قافیو په آهنګونو کښې راتړوله وي. ولې دویمه یا منځنۍ مصرعه دَ قافیې نه ازاده وي یا آخري دوه مصرعې دَ قافیو په لړۍ کښې سیللے شوے وي. او اولنۍ ددغې قیدغن نه خلاصه وي. داسې مثالونه هم شته چې درې واړه مصرعې یکښې هم قافیه او هم ردیف وي. خو کومه بې ساختګي چې په معنیٰ شکل کښې موندلے شي. عموماً تړې دا نور واړه صورتونه په څهٔ نه څهٔ حوالې سره عاري وي. بهر کیف دلته دَ وضاحتي ترتیب سره سمې هایکوګانې رانقل کېږي.

"مثالونه"

ع۱ ارمان په غیږ کښې دَ ارمان ورک شولو
مانه دَ لاس کرښو کښې ځان ورک شولو
دَ زړهٔ درزا سې اوس لا رچرته شم

(اظهار الله اظهار)

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ع۲: ما ښکلې عکس د ښوندوب اولیدهٔ
په سوچ کښې ورکه شوه د ژوند ائینه
زهٔ چې بیدار شومه، ما خوب اولیدهٔ

(اظهار الله اظهار)

ع۳: د سترګو تور دې د غزل مطلع کړم
داسې راټول راټول تقسیم شومه زهٔ
لکه د کاڼې په مینځ نیم شومه زهٔ

( 〃 )

ع۴: د وخت رفتار لا اودرولے شي څوک
داسې په ورانده‌ې زمانه لاړه شي
چې ائینه دانه وانه لاړه شي

( 〃 )

ع۵: زنځیر موکے، موکې زنځیر اوخوړهٔ
تعبیر مې خوب، خوب مې تعبیر اوخوړهٔ
نن دې وینو رانه تصویر اوخوړهٔ

( 〃 )

دا حقیقت دے چې ییک د تخلیق په پیمانه خپل
اعتبار اونهٔ بایلي نو بیا ئې د هیئت د وجود او ثبوت
دپاره د هیڅ خارجي دلیل جواز نهٔ راپیدا کیږي
خو د ظاهرو سترګو نظر لندو تنګ وي. او د هر څهٔ
دپاره یوه ټاکلې شوې پیمانه او فرم غواړي. او په

Scanned by CamScanner

دغه فورم کښې ژوند او فن دواړه بند یوان هم لیدل غواړي - دا خبره ځکه اوکړے شوه چې د ځینو جامد ذهنونو او رجعت خوښونکو عناصرو دا خیال دے کړے چې هایکو که د ۵ - ۷ - ۵ په اوولس سیلابزن ترتیب اونه لیکلے شي - نو هغه به ښځې هایکو نه وي . او حال دا دے چې داسې ناروا قدغنونه جاپانیان هم د تخلیق د فطرت په لاره کښې خنډ گڼي - نو بیا آخر په دوي د اوولسو سیلابونو جبه چپه او ډوډي ټولي پیریان ولي ناست دي . اوس که چرې په دغه ترتیب کښې ښه معیاري شاعري کیدله نو بیا هم یوه خبره وه خو داسې هم نه دي شوي - د دغې هیئت خوښونکي شاعري نه کوي بلکه ناست وي خپلې گوتې شمیري او ځان ته ننړي او اوږدې مصرعې راپا دوي او په لاس کښې د لفظونو خوږدونکي او خو یوونکي کباڼو رانیولو بې ځایه تکلف کښې خپل وختونه ضائع کوي - گڼي چې دې ټوله سلسله کښې آورد په آمد غلبه وي .

سوال دا راپیدا کیږي چې په دغه پیرایه کښې څه شی ته راغلي دي - د شعر په پیمانه څه مقام هم لري او که نه دا ټول د غیر فطري آوازونو یو فریب او ریاضتي پینسه ده -

ketabton.com - The Digital Library



دا حقیقت دے که جاپانی هایکو پښتو ته راځي نو د پښتنو د دود دستور د لاندې به يې هيئت، ساخت او معیارونو او پیمانو کښې لازمي بدلون راځي. ځکه چې جاپانۍ ژبه د خپل مجموعي مزاج او صرفي نحوي او صوتياتي جوړښت په اعتبار هم د پښتو ژبې سره اړېکه نهٔ لري او س که پښتانهٔ هایکو تخلیق کوي نو په هيئت کښې به يې د پښتو ژبې او د پښتنو قام د معروضي حالاتو په تناظر کښې کسے او زیات خامخا راولي. ځکه که په اسالیبو کښې دغه بدلون رانشي نو بیا دا ټوله سلسله هسې يوه لوبه ټوقه شي ځکه نو داسې عناصرو له پکار دي چې د نورو د ناپوهۍ د فکر نه زیات د خپل مرسپين او مرغیچن ذوق جاج واخلي او د پښتني هايکو د تحريک مخې له دې نهٔ راځي کښې نو د غو رځنګونو په دې سمندر کښې به لکه د ګنګيرې لاهو شي.

ځنې لیکونکي چې پکښې ښاغلے اسیر منګل، ښاغلے اباسین یوسفزے، ښاغلے روښان یوسفزے، ښاغلے غازي سيال، پروفیسر محمد نوازطائرؔ او رحمت شاه سائلؔ په اولني قطار کښې په نظر راځي. په دې بحث کښې هم لوستونکي تېر باسي ګنې چې هایکو د جاپان نه نهٔ ده راغلې بلکه په پښتو کښې د کاکړۍ غاړې په

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



شکل کښې وړاندې نه موجوده وه. دا خبره غیر تحقیقي، غیر منطقي او غیر اصولي ده. غیر تحقیقي په دې ده چې موږ سره د کاکړۍ غاړې د ارتقاء نیغ معلوم تاریخ نشته. فقط د یو څو خورو ورو وراُستو اوکړو وړو نمونو په لاس راتلل ددې خبرې دلیل بېښې نشي کېدے. ګنې چې هایکو به د کاکړۍ غاړې نه را زېږېدلې وي. دا بېستايُلې بناغلې خو دومره پورې وائي چې د جاپان هایکو هم د پښتو د کاکړۍ غاړې نه را پیدا شوې ده. کمال دے د هایکو د صنف یو معلوم تاریخ دې چې ټولې دنیا ته ښکاره دے. او په پوره تواتر سره د ابتداء نه را واخله تر دې دمه پورې را رسېدلے دے. او حال دا دے چې پښتنو ادیبانو لا تر اوسه دا هم نهٔ دي پېژندلي چې د کاکړۍ غاړې څهٔ ساخت، څه تاریخ او څهٔ څهٔ هیئتونه دي. او د کومو خاص موضوعاتو احاطه کوې یا په کلاسیکي شاعرانو کښې دا چا، چا تخلیق کړې ده. او دا هم چې کاکړۍ غاړه او هایکو په هنري او هیئتي حوالو د یو بل نه په څومره فاصله دي. که چرې دا دوېڅه شي ګنې چې دا د هایکو اضافي کنټریبیوشن دے. چې په پښتو کښې ئې "کاکړۍ غاړې" را اووېستلې نو بې ځایه به نهٔ وي. ګنې چې پښتنې هایکو پښتانهٔ د

Scanned by CamScanner

خپل ماضي د ورکو ننداړو تماشو ته راپاروي دي.
(او دا هم د هایکو کمال دی چې پښتانه ئې یو واري بیا
په تپه مشین کړل).

د "هایکو" او "کاکړۍ غاړې" راپیو ځائ کولو
دعوی غیر منطقي په دې حواله ده چې "کاکړۍ غاړې"
څه ادبي صنف نه دی. بلکه د اولسي لوبو ټوقو
دونړو، اړونو او د لفظي او ذهني کرتبونو حیثیت
لري. بل ئې رواج دومره کم پاتي شوی دی چې اکثر
پښتانه پرې په خپله هم د سره نه رسي. د سوچ
مقام دی چې په کومو داوړونو پېچونو کښې پښتانه
په خپله تېر وځي. نو جاپانیان به تر پښه اخر
څنګه اثر واخلي او بیا به ورله لا د یو ادبي صنف
مقام هم ورکوي. حقیقت دا دی چې د جاپان او د
پښتو ادبي تاریخ داسي لنډې ثبوت هم نه لري چې
کښي دغي مفروضي ته پرې تقویت ور اورسي. اوس
که چرې جاپانیانو د پښتو ادب نه څه استفاده کول
هم غوښتل نو د پښتو ژبي نور معلوم صنفونه نه
وو چې د کاکړۍ غاړې غوندې مجهول څیزونو پورې
په اخښتل. دې لړ کښې د قلندر مومند صیب رایه ده
چې پښتو لیکونکیو له نه دي پکار چې د هر راتلونکي ادبي
صنف جرړې دې په پښتون ثقافت کښي د کتلو ضد

ketabton.com - The Digital Library



اوکړي - خاص کر چې هيڅ قرينه پرې هم شهادت نهٔ کوي -

دَ "کاکړۍ غاړې" او "هایئکو" دَ اتصال او يووالي دا دعویٰ غیر اصولي په دې ده چې دَ "کاکړۍ غاړې" او هایئکو تر منځه دومره ظاهري، باطني، لفظي، معنوي، منطقي هیئتي، شعري، خارجي او داخلي لرې والے پروت دے. چې دَ دواړو دا يو ځائے کولو عمل دَ جهل مرکب په داېره کښې راځي اوس که دَ ذوق خاوندان دَ هایئکو هیئتي ادلون بدلون ته يو نظر هم ور اوګرځوي نو ددغو ياد بناغليو دَ راجوړې کړې شوې ډرامې ډراپ سين به په خپلو سترګو اوويني.

او بيا په تېره تېره بناغلے رحمت شاه سائل په دې حواله دومره خطرناک حد ته رسيدلے دے چې دَ سياق او سباق نه يو خوا ته دَ پښتو دَ مېترې شاعرۍ دَ خزانې نه دَ دريو دريو مصرعو خودساخته اکايئ جوړوي - او دَ هایئکو عنوان ورله ورکوي که دَ بناغلي وس اورسيدهٔ نو دَ پښتو دَ کلهمې شاعرۍ نه به دَ ځنهٔ وړاندې ورستو دَ مصرعو په خارجولو او په ځهٔ ضروري تحريفونو او اضافو هایئکوګانې راجوړې کړي - دا رښتيا دي چې چرته هم دَ علمي او ادبي تحقيق لارې بندې وي. نو بيا هم داسې نارو او ناشونې کېږي

ketabton.com - The Digital Library



خو شکر وښتل پکار دي. چې پښتانه اوس په چا هم په پښتو سترګو باور نه کوي. سائل صاحب ته دي معلومه وي چې هائیکو څه د ګنجې لېونۍ مینه هم نه ده چې هر کس او ناکس به پکښې د خپلې برخې ترلاسه کولو خوبونه ویني.

بهرکیف د ظاهري هیئت نه یو خوا ته هائیکو یو داخلي صنف هم دے چې د لمحو ژوند او د ژوند لمحې د جمال د احساس د لاندې په ژورو تخلیقي تجربو کښې رانغاړي. دا صنف د ښکاره وضاحتونو نه ځانته یو بیله د رازونو لار را اوباسي. لکه د غزل د صنف هائیکو هم د رمزیت، اخفاء، اشارو، کنایو او استعارو په ژبه خپل پیغام بل ته ورسوي. دا صنف د خپل ورک داخل نه د انکشاف ساعتونه رازبن وي. او د موجود نه زیات محسوس ته پام ورکړخوي. دا رښتیا دي چې هائیکو یو ادبي صنف دے خو هائیکو د یو سپیڅلي تهذیب او کوتلي تمدن نامه هم ده. هائیکو د رنګونو او تصویرونو هنر دے. خو د ژوندي تصویرونو هنر چې ځانته د جهان خواره عکسونه راستنوي ګنې چې هائیکو د متحرکو تصویرونو خاموشه ژبه ده او د ژبې د خاموشیو ګویان اغوږدے.
د هائیکوګانو رانږه تصویرونه که مونږ له څه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ځوابونه راکوي او څه رازونه راته وايي نو د شونډو په سر راپاته څه سوالونه او پوښتنه هم کوي. هایکو د تاش یو غورځنګ هم نه دے بلکه د یوې زورورې تخلیقي لمحې او باطني تجربې یو ښکاره او هنري اظهار دے. دلته لمحې تصویرونه کېږي او بیا دغه تصویرونه د نسلونو په تاریخ د انسان په نفسیاتي او د موسمونو په بدلون رابدلون او د تهذیبونو د زمانو په تېرېدو او هسک کښې ورکېږي او ښکاره کېږي، ډوبېږي او رابرښېره کېږي او د انسان د ذات او کائنات ترمنځه فاصلې په مینه مینه اوباسي. معاشره په خپلو کړو وړو او خدوخال کښې په هنر هنر راښکاره کوي.

ددې نه اګاهو چې د هایکو په موضوعاتو سرسرې خبرې اوکړے شي لوستونکو ته د مغربي او مشرقي ژبو د څینو هایکوګانو ترجمې په دې غرض ور وړاندې کېږي چې یو خو ورته د هایکو د 'افاقي تخلیق اندازه اولګي او بل په دې وسیله د مختلف قامونو د سوچ د انداز نه هم خبر شي. دغه رنګ د هایکو په مختلفو ژبو اثر او د مختلفو ژبو د هایکو په ساخت او موضوع د غورزېدلي اثراتو لږه ډېره اندازه ورته هم اوشي او بیا د پښتو ژبې د فراختیا، ملمستیا، اظهاري

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



قوت او جوهر پته ورته هم اوګي او دغه رنګ په دې بهانه د دنیا د نورو ژبو او پښتو ژبې د هایکوګانو ځنګه تقابلي عکسونه هم دوی ته راوړاندې شي او دا شعور ورته حاصل شي چې د پښتو هایکو ساخت او هیئت ولې د دنیا د نورو ژبو نه ځانته او بدل دے یا دغه رنګ پکار دي.

## د انګریزي هایکوګانو د پښتو ترجمې

ع ۱

| | |
|---|---|
| The baby | ته دې ماشوم چې ته نه ګورې چې |
| Sucking his Thumb | ځو مره په مینه کېږه ګوته رووي |
| Moon gazes | سپینه سپوږمۍ ئې دید نو نه کوي |

(Tom clausen)

ع ۲

| | |
|---|---|
| First snow | د موسم واوره وربدل شروع شو |
| gathers | د انغري نه ګېر چاپېره ګوره |
| all in | نن د یارانو محفل ښهٔ ګرم دے |

(Barbura Ressler)

Scanned by CamScanner

ع۳

In a swing — اُجې په تال باندې جوته او خورې او

The widening are — بیا راته اوخاندې دَ شونډو په سس

of the smile — ډک دَ موجونو سمندر شمه زهٔ

(John Thomp son)

دَ فرانسیسی دَ یوې هایکو ترجمه

---

ع۴

vent dérangé, — هوا ته اوګوره پاګله شوله

on dance al'orage — دَ طوفانونو په اوږو الوځي

c'est nuageet dobata — ستا لوپټه او دَ اسمان ورېځي

دَ عربي ژبې هایکوګانې او ترجمې

---

ع۵

دروغ دي ټولې دَ دنیا دا ویرې

که دي رښتیا دَ کائنات اولیدل

دلته لویې ټوله الله لره ده

کذب کل الخوف کذب

احق الحق فی المعالم

الله اکبر الله اکبر

(مترجم پروفیسر عطیه جلیل عرب)

ketabton.com - The Digital Library



۷۶

چې ته چې څه راته وړاندې ته ځې
په هره لاره هرکوه تېېس قسم دے
دَ الله هو يو هنګامه جوړه ده
في كل مكان انت يا رب
ايّ زمانٍ ايّ مكان
يزوي الصوت الله هو
(مترجم پروفیسر عطیه خلیل عرب)

دَ فارسي ژبي هايكوګاني او ترجمې

۷۷

اوښکي مې کمې کمې اوس توئېږي | گريه كم كم است
بلا موده اوشوه زما دننه | از زمانه يا در دل
دَ يو موسم حکمراني جوړه ده | يک رنگ موسم است

۷۸

داني باران دَ پشکال داسې وو | باران امسال
دَ اونو پاني زعفراني شوې تولې | زرد پريده برگ دل
او ديوالونه مې دَ کور راشنه شو | سبز شد ديوار

Scanned by CamScanner

## د سندهي هایکوګانې او ترجمې

ع۹

| | |
|---|---|
| غرونو ته اوګوره هیڅ غږ نه کوي | گم صم تیا کهسار |
| خوځي آزار وریځې شوې دے نو | ماڻهن کي پيٽر ڍمين پيا |
| اوس د ږیرو عذاب انسان دل کوي | صد بن جا آزار |
| | (اقبال حیدر) |

ع۱۰

| | |
|---|---|
| هسې نه ځان له تندې اوږنې ته | یاڻيٌ جا جهرڻا |
| وریځې لږ غوندې لټون خو اوکړه | گولڻ سان ملي ويندا |
| نو د اوبو چینه هم دلته کښې ده | منان مرو پیاسا |
| | (اقبال حیدر) |

## د بلوچي هایکوګانې او ترجمې

ع۱۱

| | |
|---|---|
| دا زړهٔ مې هسې بې قرار دے کښې | بے قرار انت دل |
| د هر موسم په ژبه دا نغمه ده | موسم انت و دارانی |
| د منزلونو سپورې لرې نهٔ دي | دور نہ لنت منزل |
| | (پروفیسر غني پرواز) |

ketabton.com - The Digital Library



۱۲ع

زهٔ هم دَ مینې دَ احساس قیدي یم — مهرۀ بشریک آن
دالله که غم که خوشحالي راکوي — درد بخښیت که دشي
هرڅه چې غواړي دَ جانان خوښه ده — یاریه کو لیگ انت
(ډاکټر علي دوست بلوڅ)

## دَ پنجابي هایکوګانې او ترجمې

۱۳ع

پړ پړ ده دَ سپوږو تماشې نهٔ کوم
زهٔ دَ ختلي نمر رڼا ته ولې
دومره دَ لاندې نه نظر اوکړمه
ڈھلدے سائے دے دل میں کیوں تکدی
میں بلندی سان اینواں کیہہ ویہندی
میں تے یا نن سان چڑھدے سورج دی

۱۴ع

خلقو ته ښکي دَ وفا زوتوم
اوس که زما نه هم جفا اوشوله
ځان له به یو چه دوه سزا ورکوم
میں سبق دینی آں وفا واں را
مینتھوں جے بے وفائی ہو جاوے
دونی ملنی این فِر سزا مینوں

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دې مثالونو په رڼا کښې یقیناً چې د ژبو د تهذیب فرق به په لوستونکیو منکشف شوې وي. او دا اندازه به ورته هم لګېدلې وي چې د دنیا ثقافتونه په کوم نقطه را یو ځاې کېږي او په کوم پړاو بېلېږي.

بې ځایه به نه وي که د جاپان د ځینو نماښنده هایکو نګارانو د یو څو هایکو ګانو ترجمې هم په دې مرحله را نقل کړې شي چې لوستونکیو ته دا شعور هم حاصل شي چې د جاپان زمکه او پښتنه خاوره خپلو کښې څومره ثقافتي فاصلې او جذباتي اړیکې لري.

ع۱۵:
اوبه په مخه رابهېدارې شولې
نن چې ناسا په یو اوده تلو ته
یو د چینډخې چې تو پا اوهه
(باشو)

ع۱۶:
څومره بې کچه زره رابښکون دې پکښې
دا د دوو غرونو مېنځې کښې لاره چې ده
د بنفشې ګلونه خاندې پکښې
(باشو)

ع۱۷:
بښې ورک وومه یوا څې وومه
چې مې یو او چه ځانګه ماته کړله
د زړه د خلاصه مې ژړلي دي نن
(شیکي)

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ع۱۸ د خاموشۍ را خور جادو دې پکښې
د چینډ خانو اوازونه واوره
یو الله هو او الله هو دې پکښې

(بوسون)

ع۱۹ که د ما بنام تیاره خوره شي نو څه
نرګسي سترګې چې اور اونیسي
د زړه په لار کښې مې د دیوې بلې شي

(بوسون)

ع۲۰ ته د مارغانو وینا واوره کنه
وائي جهاز هوا کښې پورته شي او
خپلو وزرو له ریا نه ورکوي

(یا ماکوچي)

ع۲۱ ورځه زمونږ په سر اور وروي
د شپې موونږ ني حادثې د فراق
په کومه لاره باندې تګ او کړې ځوک

(سانتوکا)

ع۲۲ ما سره مل زما خوبونو کښې دي
سترګې چې پټې کړم بښکاره ئې وینم
هغه زما نه جدا شوې نه ده

(سانتوکا)

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ع ۲۳، واوره، هوا او د باران شرقا وے
د جدایۍ په دې موسم کښې راشه
چې قافلې سره ملګرې شو مونږ

(اِسا)

ع ۲۴، اُف دا سپین بریرے بوډا اووینه لږ
چې سر وهلے بروهلے کړتے
په اډیره کښې ترې نه لار ورکه ده

(اِسا)

کېدے شي چې ځنې د وهم رنځوران دا هم وائي چې دا نموني هسې بې ځايه راوړلے شوي دي. خو رښتيا خبره دا ده چې په دې حواله پښتانه لوستونکي په ورمبي ځل د هايکو عالمي تهذيب سره پېژندګلو ترلاسه کوي. او بيا په دې پسې ايې کښې لوستونکو ته دا هم خودلے شوي دي چې هايکو څومره سنجيده تخليق دے او د څومره تخليقي زاره چاودون غوښتونکے دے.

پاتې شوه دا خبره چې هايکو د کومو موضوعاتو احاطه کوي. نو ددې خبرې ښکاره جواب خو دا دے چې دا يو ادبي صنف دے او د ادب موضوع ژوند سره تړلي واړه موضوعات وي. ځکه نو په هايکو د موضوعاتو قدغن نکول ښځي ناروا کار دے خو چونکه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



هایکو دَ هیئتی ارتقاء سره سره دَموضوعاتي ارتقاء نه هم را تېره شوې ده نو بایـد چې سرسري ذکر يې اوشي. دَ هایکو دَ هیئتي تبدیلیو په شان دَ هایکو دَ موضوعاتي تنوعاتو اصل مرکز هم جاپان دے ځکه نو دَ ځـه وخت دپاره سپوږمي خپل اصل ته ورګرځولې کیږي۔

دَهایکو دَ موجد او باني "باشو" رائې ده

"دَ هایکو تخلیق کښې دَ ماشو مانو فطري روح ته نظر ورستنول پکار دي"

باشو دَ فطرت او دَ انسان ترمینځه رابطه دَهایکو موضوع جوړه کړه او بیا يې په یوه ننداره کښې دَ ګڼو نندارو او تماشو سپوږمي هم په ګرا کړل. لنړه دا چې باشو هایکو دَ فطرت راز داره اوګرځوله.

"مسا اوکا شیکي" چې دَ باشو معاصر وو دَ خپلو شو فلسفیانو شاګردانو په مرسته دَهایکو موضوع ذاتي وصائفو او شخصي انفرادیت سره اوتړله او دَ هایکو دَ تخلیق سترګې يې دَ انسان دَ داخل پټ پټو نړو ته ور ستنې کړې خو دا سلسله ورستو دَ لفظونو یوځنګل کښې بدله شوه چې معنې به پکښې ورکېدلې. ځکه خو "بسون" ددې رجحان غندنه اوکړه. او باشو ته يې دَ ورستېدلو بشکاره اعلان اوکړو۔

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



"بایاشي اِسا" د هایکو تخلیق د زبېښلي طبقې او د ورو ورو بې وسو مارغانو ځناورو د دردېدلي او رنځېدلي ژوند د اظهار سره اوتړلو.

او بیا د جاپان د جدید هایکو لیکونکیو سرخېل "سي، شي ماماکوچي" د هایکو د تخلیق خوره جوله کښې د فطرت د تماشو سره سره د کائناتو د تکویني نظام رازونه او سماجي پېښو اسباب هم را اونغښتل.

بهر کیف د موضوعاتو د تنوع باوجود دې ټولو هایکو لیکونکو کښې فطرت او د فطرت متعلقات شریک قدر او موضوع وه. خو په جاپان کښې د هایکو لیکونکیو یو داسې ډله هم پیدا شوه چې د فطرت او د فطرت سره تړلي عناصر او عوامل ئې رد کول شروع کړل او د هایکو په تخلیق کښې ئې د دغې ځینو نوو نفي اوکړه. د دوي په خیال تېرې لمحې او د فطرت د موسمونو بدلېدل رابدلېدل په ذهن کښې د ماضي د جاګیردارانه سوچ عکسونه ورښنه باسي ولې بیا هم د جاپان زیات تره هایکو نګارانو د فطرت غېږه کښې د خوب لیدلو عادت پرې نښودلو.

ددې اختلاف په شا د تخلیق د آزاد عمل (Free Imaginative creativity) او د تخلیقي انضباط د متقابلو (serious artistic discipline)

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



عملونو انګازې صفا او رېدلې شي.

ترڅو چې د ښتنې هایکو د موضوعاتو تعلق دے نو ښتنه هایکو په دې لړکښې په ځان لښځ قدغن نهٔ بردي. هاغه ټولې هغې ځلې چې د ښتنو د ژوند تصویر ترېنه سازېږي. دا ئې په ځان کښې ځایوي.

البته اخلاقي قدرونه د ښتو د لاندې نهٔ راوړي د ښتنې هایکو پېر اېه چالاه هم دا بلنه نه ورکوي چې راشه په ماکښې د خپلو سفلي او حیواني خواهشاتو لټون اوکړه. یا په ماکښې د خپل جنس زده ژوند او ځنګلي مزاج تنداري اوګوره او س که څوک داسې کوي نو هغه پوهې شه او د هغهٔ خدائے.

زهٔ دلته یو وارې بیا ددې خیال اعاده کوم چې ښتنه هایکو کوم اجتماعي عمل او اجتهادي بصیرت رازېږولي ده باید چې رعایت او لحاظ ئې او ساتلے شي. مطلب دا هم نهٔ دے چې د تجربو سفر دې په ځائے اودرېږي. ولې ترڅو چې په هایکوکښې نوې کامیابه او معقول هیئتي تجربه نهٔ وي شوي. نو د بې ځایه اختلاف سنګر پرېښودل عین روا دارې ده. او بیا هسې هم د یوې کامیابې تجربې بې ځانه غندنه ژبې ته نقصان ورسوي.

د موجوده ښتنې هایکو کېږه دا هم ده چې خپل

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ځان او خپله جامه يې د پښتنو د ثقافت په رنګونو ښائسته کړې ده. د داسې هايکو رانګ د پښتو ژبې د اوازونو، سيلابونو او انګازو ګڼو رې لحظې دي. پښتنه هايکو نه يوازې د فطرت هنداره ده بلکه د فطرت او روايت د اختلاط نه د رازيږيدونکو مظاهرو په ملا سورلې هم خورې ګيا ده. پښتنه هايکو د فطرت او روايت په ګټيپيس ونو پښه نيولې د ژوند تر تبدلي لحظې رانيسي او نوې تنظيمي او هنرې ساه پکښې وربوکي. دغه رنګ ځان له د مخ سره راټولوي.

بايد چې پښتانه هايکو ليکونکي د چاپيره ماحول سره سره خپلې تخليقي چينې او د ځان دننه ربښتيا په پوره هنرې پوستوالي او روانۍ سره رابوځائے کړي او د عظمت او رفعت نه هسې پيدونکي ترانې او سندرې ترې نه را اوزيږوي. يقيناً چې هم داسې به کيږي.

په درنښت درناوې
اظهار الله اظهار
ليکچرر اردو څانګه اسلاميه کالج
پېښور يونيورسټي
نېټه ۲۱/۶/۲۰۰۲ء

Scanned by CamScanner

# حوالې

۱- اظهارالله اظهار — راته غوږ ونو کښې بنګړي شرنګوي
۲- اظهارالله اظهار — کاڼي د ګل په لاس کښې خوندنه کوي
۳- اسمٰعیل ګوهر — مسکا
۴- دیدار یوسفزے، ډاکټر — نسکورې لپې
۵- سهیل احمد "مدیر" — هائیکو انټرنیشنل (اقبال حیدر نمبر)
۶- شکیل احمد نایاب — "پلوشې" غیر مطبوعه
۷- ناهید سحر — خپلو خوبونو له تعبیر لټوم
۸- نوازطائر، پروفیسر — خوبونه خپل کلي کښې
۹- محمد ایاز غزل — د بنا ستونو د صحرا ورځې (غیر مطبوعه)

ketabton.com - The Digital Library
Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



لوئې مې دا ده چې بنده يمه ستا
بريت آخر اووايه په څه تاؤ کړمه
چې يوه ساه مې هم اختيار کښې نه ده

❁ ❁

دَ آخـري رسول امت کښې يمـه
اوس خو زما او دَ جنت تـر مينځـه
بيخي قسم دے فاصلې نشته دے

Scanned by CamScanner

څوک به زما له حاله خبر شي څښتن
یو نوی داغ مې په لمن پرېوته
چې د ګلاب څانګه کښېږ ګل ښکاره شو

زه د چا ملا سته غوا هم نه پاسوم
شين يې ځکه ستا د چم لېوني
ما په ازغو باندې راکاږې مدام

ځ دې د ورانې اسنې غوندې دے
ښه به وي دا چې درته ګوره نه
څو به د ځان سره په جنګ اخته یم

ketabton.com - The Digital Library



دَ زلفو سیوړو ته مې خوب کوملو
چې دَ ښې ژړا داپیاده شوله
په سرهٔ غرمه تر ښه راپاسېدمه

❁ ❁

دَ اسمانونو ورته سرخکته وي
کل به کړم دَ محبت، چرته چې
دَ ربل پاتلی دَ غر سینه پرېکوي

❁ ❁

څومره شرمېږي دَ ښائست مېرمنه
ورته چې ګورم په نظر دَ مینې
رانه دَ خوړ اوبو کښې ځان غوټه کړي

Scanned by CamScanner

بې روزګارې چې مې ځکه اولېدې
وېشل یې ګرانه بابا غم مه کوه
بیا به ټافیانو پسې نه ژاړمه

❁ ❁

شیرینې ژوند د شوګېږو نامه ده
خپله ځواني دې چېرته خاورې نه کړې
د زوړ دیوال سیورې ته خوب مه کوه

❁ ❁

رب دې اباد کړې خپل کورونه په دوې
خو یو ژور سوچ کښې راګیر شمه زه
پېغلې چې مانه اټوګراف اخلي

ketabton.com - The Digital Library



اُ لېونۍ سره به اوس څهٔ کوم
وائي که شل ودونه هم اوکړي ته
نو زهٔ به یُم ستا یو وښتمه ښځه

❀ ❀

زهٔ چې تري لږ هم لرې کېږمه نو
راپسې ژاړي دَ ګودر غاړه کښې
ما دَ ګنګا په اوبو اولامبوی

❀ ❀

په یو غورځنګ سره اسمان ته رسي
وه لېونۍ سېغلې په خود کښې اوسه
تا لا دَ زمکې تل لیدلے نهٔ دے

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



په زړه کښې وایم داسې مړ بنده یمه
چې مې د سینې چپې تر لرې یوسي
دننګه غړی ئې نوره هم پوره شي

❁ ❁

زړه په یوه خندا لمبه داسې شي
لکه د اوړي د غرمې له تاوه
د ښار پاخه کورونه اور اخلي

❁ ❁

مینه په ځان ګواهي نه رد کوي
تا پاسندې ښکله اعتبار اوکړمه
ته خو د هر پېغور ده تېښته کوې

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



تهٔ دَ سپرلو کاروان ته لارمهٔ نیسه
په شا ستانهٔ کړه نظرونه دَ ښکار
څه کور ته څه! چرته سرتوره نشې

❁ ❁

اوښکې چې ستاسترګو کښې اوچې شي نو
دَ شپې تیاره مې اندېښنې زیاتې کړي
دَ اسمان ستورې رانه لار بدلوي

❁ ❁

درسره حقې شرې نهٔ کومه
څه ستا دَ خپل نه مې توبه شیریني
خو راشه اوس دې رانه سپې کورې کړه

Scanned by CamScanner

پکار مونه دي د فریب رنګونه
د سپرلي باده خپله لاره نیسه
هسې په مونږ پورې خندا مه کوه

مینه په هر موسم کښې خوند نه کوي
په سره غرمه له کوره مه راوځه
د پشکال تاو دې میراته نه کړي

ستا د قامت سوچ مې شمله هسکه کړي
چې بازارونو کښې د ښار جینکې
د سنډلونو په زور قد لویوي

ketabton.com - The Digital Library



ستا د ژړا ارمان دی اوزړی خو
دغه یو خو ښاغلي یاران شیریني
ددې وطن د زمکې تاو زیاتوي

❁ ❁

د سمندر سفر رایاد کړه کښه
رانه ځاپېږه طوفانونه ووخو
د ډوبېدو راسره ویره نه وه

❁ ❁

کور کښې د سېر اوږو درک نه لګي
خو ځان د لیچانه هم کم نه کړم
د وخت درې خمیره لګي زما

Scanned by CamScanner

ما درته وے مسافرے مهٔ کوه
لاړو دَ سر سپورې دې هم خاورې شو
دَ کور دالان دې پرېوتے اوخوړو

❁ ❁

دَ یوې پېغلې ډائرۍ مې لوسته
ورته حېران شوم، ما یوه لحظه کښې
کښې بربنډې فرښتې اولیدې

❁ ❁

درد لا دَ اوښکو لاړ لیدلې نهٔ دهٔ
وژني چې مونږ دَ خپل وجود تاووته
لا پشکال بارانې شوے نهٔ دے

دَ بې وسۍ داستان لا ختم نهٔ دے
ستا آواره خورې ورې زلفې هم
دَ چا منزل دُور په سر وريځې نهٔ شوې

❀ ❀

خنکه مَړه شي دَ نسلونو لوږه
هر څهٔ ښهٔ ډېر تېر دي خو غم دغه دے
زمونږ نه سترګې راپرېوځي هسې

❀ ❀

دَ حاسدانو شمېر مې زيات دے بلا
درد چې سېوا شي نو په نيمه شپه کښې
ستورې راپاسېږي اتڼ واچوي

ketabton.com - The Digital Library



زغلمه څُم دَ پلوشو په اوږو
زۀ د دې خاورې سره مینه لرم
خو دَ اسمان فکر مې هم کومه

❁ ❁

بنګړي دې مات دانه وانه پراته دي
له تانه زار، راسره ضد مه کوه
پرېږده چې فکر دَ روزګار اوکړمه

❁ ❁

زموږ دَ کلي بې اسره ځه شولۀ
کور ته به رسو کنه لار کښې به مرو
هوېي ټریفک دے اوګېه لار ده ده

Scanned by CamScanner

ستې دې نکړې د ځوانۍ تاوونه
وېره چې بېشکل دې کړم خوځهٔ اوکړمه
سکروټې نهٔ بهٔ دمه په ښو نږو دکل

ځوانې منم له موره کمه نهٔ وې
خو که زما په کور کښې ګوټې وهې
هسې به ژوند د خپلې لور خاورې کړې

ساه راکښې نشته خو خبرې کوو
لکه په زول کښې چې بجلۍ لاړه شي
او د پکو پرې تاوېږي هسې

شیرینې وایه که زما په لیدو
د زړه درزا دې سوا شوې نه وي
نو بیا دا ستا غوږونه سره ولې دي

❁ ❁

د مینې کومه سلسله یاده کړم
د ټیلي فون ټلې چې اوغږېږي
وېږم که څوک ماله په مړې غلې شو

❁ ❁

خوایږه د مینې راپېښ زو کړه هله
چې ستا بانړه برند شي شیرینې زما
نو ګېږ چاپېر تورې مچې والوځي

ketabton.com - The Digital Library



ورک مې له ځانه حادثې کړي دَ ژوند
داسې مې هېر شي دَ ښائست يادونه
لکه چې اور دَ ځنګونه ورانه کړي

٭٭

پېغلې ځوانۍ دې دَ سپرلي موسم دے
ستړګې چې واړوې راګورې په شا
اسمان کښې پړق شي دَ ياران شپه شي

٭٭

فطرت ښائست هم دَ انسان زياتوي
چاپېره اوښاندي ګلونه دَ رنګ
دَ رڼا پاتلې چې دَ غر زړه کښې اوځي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دا نه چې زه ئې وننګینم نه وېستم
خو د فطرت ځنګلِ وحشي داسې دے
چې ښځانو له پناه ورکوي

❀ ❀

د خدائے رحمت هم امتحان دې کنې
چا کښې هم مینه ورورولي نشته دے
دا د چینې اوبه چې کوم پله ځي

❀ ❀

خدائے شته مدام د ژوند سندرې وایم
زه د بښمنې چا سره نه کومه
ما د خوږې چینې اوبه ښکلې دي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دا معجزه دَ محبت اووینه
چې دَ درد څڅیکه په اسمان خورېږي
دَ اوربځې دَ باران څاڅکي شي

❁ ❁

سېلاب چې راوړي دَ ګلونو څانګې
دَ خوشبوېو قافله لوټ شوله جوړ
اوس به دَ کوم تصوېر په داړ ژوندي یُو

❁ ❁

دَ نظرونو تماشې اوخوړې
دَ ارمانونو مې دنیا ورانېده
تا دَ رنګونو لوګی رانیوې

Scanned by CamScanner

اک یو تصویر زما په سترګو کښې دے
ماله به څوک د خوب تعبیر راکوي
باران ورېږي او فصلونه سوزي

❁ ❁

د دې وطن فضا سپېره دومره ده
یخه هوا که هم راوالوځي نو
د چا غریب په خونه اور پورې شي

❁ ❁

آ لېونې مې څېرته قتل نه کړې
دومره خرابه شوه فضا د وطن
څوک په رڼو اوبو کښې ځې نه دېبي

ketabton.com - The Digital Library



تپوس کوم خو خفه کېږې به نهٔ
دومره دې سترګو کښې وحشت ولې دے
ته که دَ ښکار سپو زغلولے نهٔ ئې

❁ ❁

کور ته ورځه رب دې سر توره مهٔ کړه
بې لوپټې حُسن رسوا داسې شي
لکه چې رنګ دَ لوکې والوځي

❁ ❁

دَ ښار مېرمنې خپل خاوند ته وېل
خدائے شته له تا ئې سترګه هم نهٔ ړپي
ستا دَ دفتر چپړاسي ما تنګوي

Scanned by CamScanner

راته معلومه دَ دښمن توره ده
جرنده مدام ګرځي په زور دَ اوبو
تهٔ تر ښه لاس واخله نو هیڅ به نهٔ وي

❁ ❁

که درته غیر نهٔ کوم تېر نهٔ اوځي
پرېږده بې خونده ډېر دي بنهٔ پېښم
تهٔ دَ موګې په زور ټوپونه وهې

❁ ❁

پېښ نه ګلو نشته دَخور او دَ لور
ددې وطن زلمي خو داسې نهٔ وو
څوک مې دا زهر ګډوي وینه کښې

ketabton.com - The Digital Library



زهٔ په ساحل د سمندر ورک شمه
د درد د زانو سېل راوالوځي او
د اوازونو په مری غلي شي

❀ ❀

دومره اوچت تو پونه ښله ولې
زما ښېرې ته هم غوږ کښېږده لې
څوک دې الوزے اوښنده نکړې

❀ ❀

د سر پروا مينه کښي نهٔ کوم ښو
دومره زما قتل اسان مهٔ کښه
زهٔ څه ويستلي اوږده هم نهٔ يمه

Scanned by CamScanner

پروت که د سلو پردو شا ته یمه
د نظر پړق به مې در اورسوي
هوار د تندر په اوږو الوځم

د خوشحالۍ بنیاد په غم وي ولاړ
زما په شونړو څه خندا خوره شي
لا د غوټۍ زړه خو چاودلې نه دے

اوس خو ښه ستا ده چې راځې او که نه
شیریني ته چې مې په څنګ کښې نه ځې
نو پلوشې مې د سپوږمۍ سوزوي

دَ روح زخمونه مو له شمسې اووتل
مهٔ خوشحالېږه لېونۍ که په مونږ
اسمان دَ کانړو باران نهٔ وروي

❁ ❁

څهٔ ته مې زهر خوړوه ویته کښې
خو چې زما دَ مینې زور اووینې
مرګ هم دَ نیمې لارې ستون شي زغلي

❁ ❁

اسمان بلنې دَ راتلو راکوي
ستورې ګډا کوي په ساز دَ مینې
څُڼې چې سوارهٔ شو دَ هوا په اوږو

ketabton.com - The Digital Library



رب دې ژوندی لره خوشحاله اووایم
د کمتو کور دې زړه د کاڼي کړلو
مینه اوس تا باندې اثر نه کوي

❁ ❁

شیرینې مه ځه د هوا مخې له
چې ستا د زلفو خوشبویي شي خورې
په اور کښې اوسوزې ورمې د کملو

❁ ❁

زړه په بلا بلا مزې غواړي خو
طوفان دې، مه اوځه له کوره بهر
د خپلو زلفو دام کښې کېره نه شې

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



سپوږمۍ له تانه یو تپوس کومه
په نیمه شپه د سمندر ننداره
رانیسي ولې د اسمان لمنې

❀ ❀

د غټې غوټې نه پرهېز کوه لږ
وازګه دې ډېره په بدن اوخته
نیمبو نچوړ کړه د قهوې پیاله کښې

❀ ❀

د خودارۍ د اسمانونو مینځ کښې
څکه زنګین مه جوتې خورمه زه
چې ما جوته د چا خوږلې نه ده

Scanned by CamScanner

که جذباتي شوي ځان به اونه مومي
د خپل رفتار تېزي د لاس لاندي کړه
اُس د ځواني دي واګي اونه شلوي

د زړه د درد منزلي سر ښکته شي
مينه روانه د اوبو غوندي وي
ژوند خو د واوري چم دے زر ويلي شي

په سمندر کښي ډېر مرغن شي غرونه
ته چي پستي پستي خبري کوي
زړه مي د کاڼي په رنګ ټق اونه چوي

ketabton.com - The Digital Library



یمه ژوندے ستا دَ لیدو په امید
ولې دَ نمر دَ پلوشو سپوږي هم
تیاره چاپېره په ګودر خوره دي

❁ ❁

اوس خپل وس خپل اختیار کښې نهٔ یم
ماچې رنګینې لوپټې اولیدې
دَ زانو سپل ځان سره یو ړمه زهٔ

❁ ❁

ستا دَ بنا ښُت لمبې مې مرې په زړهٔ کښې
خپله پسته سینه کښې زور راکړه لږ
دَ ژوند دا شور مې چرته کانړے نهٔ کړي

Scanned by CamScanner

د ناز شمله به مې راټيټه نه شي
نمر چې پرېوځي نو زما شيرينې
شفق شفق څادر په تا غوړوي

❁ ❁

تا چې تر منځه لوېښته اووېسته
سپوږمۍ زما او ستا شوې لارې جدا
ته په فانوس زه په ناموس پسې ځم

❁ ❁

پوه شوم اوس چې پښتنه پېغله يې
مات چې کړل ما ستا د زندان سيخونه
تا د پيشو پښې په ما خپې کړې

ketabton.com - The Digital Library



دَ پاغوندو باران لمبه لمبه کرم
زهٔ لا په دې فرېب کښې کړس ومه چې
دَ واورې غر لاوا نوستلے نهٔ شي

❀ ❀

کله کوټکېږي دَ سندرو ژبه
ډېر که ئې غرونه په شا اوتمبوي
اودرېږي نه دَ اوازونو سفر

❀ ❀

زمونږ دَ کور چت که راڅڅي په مونږ
شکر په دې خېر ده هم اوپاسو
چې په تالا مېدان خو پاتې نهٔ يو

Scanned by CamScanner

له حد نه نهٔ اوځم خوځهٔ اوګرمه
دَ هاغو نرمو ګلورینو شونډو
جوته چې اوڅکمه جوته جوته شم

❁ ❁

اودرېږي نه دَ قیامتونو سفر
خو چې په کور کښې جینکۍ سغلې شي
اواز دَ تندر غورزېدو واورمه

❁ ❁

:

څنګه شي ختم ازمېښتونه دَ ژوند
چې یارانو نه دَ سپېلو کښېږي نو
یوسي شیبې دَ لوګو رنګونه

ketabton.com - The Digital Library



اوس زهٔ فالګی ته لاس په څه اوبنایم
ستا د تندي کوڅې لیدلي دي ما
زما د لاس کرښو کښې هيڅ نشته دے

❁ ❁

د کمپیوټر نه مې پوښتنه اوکړه
اوبه په ډانګ باندې بیلېږي که نه
دې کښې یو پلار په څې ډزې اوکړې

❁ ❁

لا د ادراک منزل نه دی لرې یئو
یو نسې ستر کو نه خوبونه زما
د ورک نظر تعبیر مې مه راکوه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



زما دَ قتل تور درپورې مهٔ شه
تهٔ چې په کړسه کړسه خاندې جينۍ
پيام کوه ماته زاتر غاړه نهٔ شې

❁ ❁

کړې مې پوازې دَ مابنام تيارهٔ کښې
چې خپل غرور ترې نه لمبه پورته کړې
بيا مې په سرهٔ غرمه کښې سپورې نيسې

❁ ❁

دا چې دَ غر په چينه څهٔ شوې دې
ستا دَ پېښو پښو شړنګ را اونيسې او
بيا مې تر لرې انګازې خوروې

Scanned by CamScanner

نهٔ به ډوبېږي په ساحل کورونه
چې خاموشي د غزاليو سترګو
د سمندر د شور بنياد ايښے دے

❀ ❀

ستا نه قربان شمه زما شيرينې
تا چې زما په شونډو خوله ايښې وه
هاغې يوې لمحې مې ژوند خاورې کړو

❀ ❀

د موسيقۍ لمحې خپله ژبه نهٔ وي
پکښې مدام ستا سندرين خيالونه
د ژوند رنګونه، تصويرونه وښيي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



خاورې شم پوے د اخترونو په خوند
کشتۍ کښې ځي، شي له نظره پناه
او زه د سیند په غاړه ناست پاتې شم

❁ ❁

د سروې اونه، چاته نه ټیټېږي
دا قدرمنده په دا حال، کښې نو
نه خو میوه نیسي نه سیورې لري

❁ ❁

څه چې د ستورو په لټون کښې اوځو
رانه چاپېر د سمندر اوبه دي
د جزیرو مېنځې کښې ژوندون تېروو

Scanned by CamScanner

ستا دَ راتلو ښکالو خوره شوله جوړ
دي چې دَ ټول کلي غوږونه ولاړ
دَ زړهٔ درزا مې نوره هم تېزه شوه

❀ ❀

جوړه تېره تُوره دَ غرڅېړه شي
راشئ په منځ او شلوئ تال دَ بوړئ
دَ پسرلو باران مې لا ژړوي

❀ ❀

دَ شين اسمان باران په شرق اوګکه
په کومه ورځ چې دَ ګيدړ وادهٔ وي
ښارسۍ په سر دې اوښهٔ وينم

منه اوږده بانړه دې مه برندوه
ستا شاهيني نظر چې پورته شي نو
وايم که باز چرته مرغۍ اونيوه

❀ ❀

زه مختورن نه يم شيريني زما
د اوښکو پړق مې ستورې هم تت کړي خو
تورې چشمې په سترګو کړې دې تا

❀ ❀

خپل احساسات مې په غور ځنګ داسې کړي
چې د سرخکو سيل راپورته شي نو
زه د اسمان غاړو کښې والوځمه

شیرینې څه! رب دې ودانه لره
ستا په کنځلو مې زړه نه بدېږي
ما د سیندونو روانې لیدې دي

❁ ❁

څه که یاران پرې د سپېلي وربېږي
چې د غمو تاو تر ښه رس وښتې وو
د ماغو اونو پاڼې شنې نه شولې

❁ ❁

څوک هېر وې شي د ژوند حادثې
هوا چې هسې پاڼه هم خوځوي
وېرم که جونګړه مې طوفان یوړه

ketabton.com - The Digital Library



وائې منمه چې سرې ئې شريف
خو ژوند هم ځان له غرقوله نه شم
ستا نه خوستر که د چا هم نه رېږي

❀ ❀

ستا په سر کلي سره شر کړمه، خو
بې وجې خنکه چاته لاس واچوم
اوس څوک په اوچه هم لامبو نه وهي

❀ ❀

د هر لوی عذاب دی د احساس محرومي
زه خوشحه ستا لار کښې ولاړ نه دمه
تا د موتړ نهارن په ځه اووهه

Scanned by CamScanner

زهٔ د دردونو د صحرا تنده یم
ساه چې مې کله په وتو شي نو بیا
خدای شته له شرم نه اوبه اوبه شم

د تعبیرونو په فریب تېر وتم
ما چې په لاس کښې لوګی اونیوه
نو د ښائُست رنګونه ټول والوتل

جوړ کړي قیامت د لوېټو الوتل
ستوري راکوز شي د ګودر په غاړه
او د اوبو څاڅکي اسمان ته رسي

سوچ کښې شي ورکه چې وریاد شمه زه
ریموټ په لاس کې وي ته ناسته وې او
چینلې هسې بدلوې لیونۍ

که دې په زړه کښې وي ارمان د مینې
هلته راځه په بس ته بیا ځېرته چې
د پوخ سړک نه کچه لار بېله ده

د سمندر طوفان مې ځان سره وړي
ستا نرګسي سترګې را یادې کړمه
پورته د ستورو چم ته اوخېژمه

ketabton.com - The Digital Library



حُسن دَ مینې په خوند څه پوهېږي
ستا دَ یوې خندا نه زار شیرینې
څورې ورې دَ کهکشان سلسلې

❁ ❁

اوښکې دې اوچې له بڼو کړه کښې
دا دَ احساس چپه به تا ورکه کړي
غمې تیندې مه دَ صحرا شګو کښې

❁ ❁

ځان رابرخېره کړی دَ زړونو دروازه
دَ محبت آواز څو نهٔ ورکېږي
اوس هم فضا ورتې زموږ سندرې

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



کاږهٔ خپاپونه دې زما شیرینۍ
نوې دلدل کښې دَ ژوند خخه نه کړي
مخ رانښکاره کړه چې یو لار را اوځي

❀ ❀

اوښکې څو کانړو کښې هم لارې کوي
څوچې نرمې پکښې را تغسله ذره
دَ اوچې دم دے څوک ئې څهٔ اونیسي

❀ ❀

زړهٔ مې یو درز کړي چې دَ کلي غریب
بیکرې تک وهي اور اولګوي
په نیمه شپه چرته قیامت رانشي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ټک ورکول خو وي فطرت د لړم
خدای شته چې یو ورځ به دې مړ کړي په چا
د ډمې لور څه فرښته خو نه وي

❁ ❁

ساه چې د وخت جیس ته راکاږي څوک
داسې د زور سیلۍ را والوزي چې
په بله وا ړوي د چم کورونه

❁ ❁

کاڼي د غره له سره اورغړوي
چې مځ په لاندې ځي کورونه وران کړي
خو د طوفان د زړه نه تاو نه اوځي

Scanned by CamScanner

تهٔ چې دَ سیند په غاړه کور جوړوې
ډېر مبارک دې شه زما تسیېنې
خو که سیلاب راغی نو بیا به څهٔ وې

❁ ❁

ښځو ته اوګوره چې واګې شلوي
دَ کټ په لنګه ئې بورقه پرته وي
په یوه خپه ګرځي په ټول کلي کښې

❁ ❁

خو ښه دې خپله خو وېښ مه زهٔ
تا دَ کولال هنر بې لارې نهٔ کړې
جوړ دَ یوې خټې نه ټول لوښي دي

ketabton.com - The Digital Library



ستا تورې سترګې څنګه هېرې کړمه
ما د زم زم په اوبو هم اووينځله
خو د لمنې داغ مې نه ځي دے

❁ ❁

زړه چاته سپک کړمه شين ينې زما
د راز خبره درته ما کوله
خو ستا د خولې پرغولے هم نشته دے

❁ ❁

څوک هم د ژوند په خوږو پوه نشي هيڅ
لکه د کلي د تهانګي مزدوري
څه د اوړو څه د بونو اورسي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



تاچې پرې شل کاله خوارۍ کړې وي
هغه تصویر مې کباړي بازار کښې
په یوه نیمه روپۍ واخستو نن

❀ ❀

تپوس کوه مه، دَ څوانۍ دَمینې
خو په سیلۍ کښې بادیوه اوخته
او دَ یو چیک سره ئې تار اوشلوُ

❀ ❀

زما په خپل زړهٔ باندې وس نهٔ رسي
خو چې درځمه ستا دَ چم په اړخ
تهٔ دَ هوا خپو کښې زنځیر اوترهٔ

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



تک شي عذاب دَ اسمانونو په لور
لمسي چې هم راته سپوږمۍ اوخاندي
ستوري مې وريت کړي په چابک دَ رڼا

❀ ❀

دا دَ فېشن جهالت هم اووينه
ا چې الف ته هم کوتک وائي تل
دَ کتابونو ستړال کښې ګرځي مدام

❀ ❀

خوب ته مې نهٔ پرېږدي دَ تن زخمونه
ژوندے احساس مې تر سحره پورې
دَ ستوماني ويښتو سزا راکوي

Scanned by CamScanner

بې وفایي کښې دې هېڅ شک نشته خو
ساه مې اوباسې د الفت سادګۍ
زر درله جوړه د اوړو پوزه کړې

❀ ❀

سمېږې نه زمونږ د ښار جینکۍ
که ترې چاپېره دېوالونه تاو شي
اوخاندي زر د کور کړکۍ به پرته کړي

❀ ❀

حُسن په هر رنګ کښې قیامت جوړوي
زلفې چې واړوي له مخه په شا
دومره رڼا شي چې نظر اوسوزي

ketabton.com - The Digital Library



اوس چې د شپې کور ته ناوخته څمه
اووائي رب دې څواني مرګه کړي ما
جانه! چې بيا ستا نه ګيلې نه ګوم

❀ ❀

تل مې تېر ياسي د الفت په فريب
بد دې بلا د تورو ستر ګو ازار
زه په شينتغه بنځه واورېدمه

❀ ❀

وايم چې بنکل دې د تندي ګوبنې کړم
زړه کښې چې هيڅ د ميني تاو نه لري
مړاوي به څه شي د کاغذ ګلونه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



راته رایاد ستا دَ لېچې خوانږهٔ کړې
اوس چې دَ هر چا تېلي فون راشي نو
خدایږګو زما دَ زړهٔ درزاء تېزه شي

❀ ❀

شیریني زړهٔ دې لاندې باندې نشي
اُ چې تو تې تماشه کړ خوې
خدای شته ویرږي له هاکې دَ ږزه

❀ ❀

ستا دَ خپلوۍ ارمان مې هم اورږېږ
خو ساه چې اووته دَ ګل دَ زړهٔ سره
نو سر تور سر مې خوشبوي اولیږۍ

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



بیدلے نهٔ شي دَ بنائُست رنګونه
تهٔ ګوره ګے ئې دَ فطرت لاسو کښې
دَ موسمونو په فریب تېروځي

❁ ❁

یوه لحظه چې هم هوا بنده شي
دَ زړونو شور دَ غوږ پردې اوشلوي
ما دَ ځنګل طوفان کښې مهٔ ګېروه

❁ ❁

دَ طوفانونو زور په شا تمبوي
دَ محبت یوه نازکه خندا
له تا ترې دَ سره هم پورته ده

Scanned by CamScanner

دلته خو چغې هم ګونګې شي په خوله
دَ اوازونو دا ویجاړ کلي به
دَ خاموشۍ په ژبه څوک پوهیږي

خوند کوي څومره سوز په دل مینه کښې
چې سروې پېغلې مې نامه اخلي
اورونه واخلم دَ چنار اونه شم

څوک به دې اووژني دَ خپلې ویرې
او به خورې سر چې ازمرے نهٔ یې ته
هسې غرمبېږې دَ لومبړ بچیه

خدائے شته هیچا ته ملامته نهٔ یم
که د مینې په تول روان یمه خو
د خپل رفتار سلسله نهٔ ماتوم

❁ ❁

داسې د هر ستوري لټون مهٔ کوه
پام کوه کور دې غرغنډې اونکړې
اورونه کړې د رڼا جامه کښې

❁ ❁

د فطرت ناوې څومره ظلم دے دا
ځان ته غاوره شي د نمر پلوشې
په څه رڼا کړې، څوک به اور سوزوي

ستا خود سرۍ خو په ما سرګرځوي
که څنګ نږدې ته هم کوږدن شولې ته
په چم محلت کښې به حلوه اووېشم

✿ ✿

ښېرازه پېغلې د واده نه ورستو
خوند داسې واړوي تپوس مه کوه
لکه کټوۍ کښې چې کبان پاخه شي

✿ ✿

حد ماتول وي هسې ځان ورکول
آخر به ماته شي یو ځز به اوکړي
څو به هوا په پوکڼۍ کښې پوکې

ketabton.com - The Digital Library



بیل چاله ورکړه دا بچې غمېږه کښې
دَ خاورې خوند زما په خوله کښې د کلا
زهٔ ستا دَ ګوړې په خوږوځه کوم

✿ ✿

اوس که څهٔ وایُم ګنهګار به شمه
هسې په ما باندې تهمت لګوي
خپله خندا دَ ګل په وس کښې نهٔ ده

✿ ✿

نو لے چې مار له په مړه غلے شي
دَ غوږ په پرده مې دا آواز وشلوي
ژوند ګوړاګے دے دَ فطرت لاسو کښې

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



زغملې نه شي د څوانۍ زورونه
د سمندر دا کم ظرفي اووينه
په يو غور ځنګ باندې اسمان ته رسي

❁ ❁

چې د ښي ژړا راياده شوله
زه ستا د لاره نه واپس راغلمه
بيا مې ځنګل ته ازمرے اوشړه

❁ ❁

مسافرۍ دومره اساني نه دي
چې چکې ونو کښې د ژوند راغلهٔ نو
سپوږمۍ ته ګوره نيمه پاتې نشوه

Scanned by CamScanner

په نیمه شپه ستا د راتګ انتظار
پروت یم چې وسپه د اسمان دلاندې
لاړې چې په ما باندې چلې جوړوي

❀ ❀

لوټه چې مه د دلاسو په خوب
پروا چې نشته که له تندې مرمه
دالله غلبېل کښې اوبه مه رانیسه

❀ ❀

چې معمولي تبه په ما راشي نو
ویښه مې ناسته د پالنګ سرته وي
په سر مې ټوله شپه زورونه کوي

ketabton.com - The Digital Library



دَ موسمونو قېد کښې نَهٔ راځي عشق
که دَ ښائست جوبن دې تېر شو نو څهٔ
مراوي لا نهٔ دي ستا دَ ياد ګلونه

❁ ❁

د ښائستونو ئې بلا واخلمه
چې په دروغه ترېنه هم خفه شم
خوب ورله نه ورځي بيا شپې رونوي

❁ ❁

ما ئې تر منځه روغه رانهٔ وسته
زهٔ دواړو ډلو خپل دښمن ګڼلم
لاړ په پردي ښار کښې مې سرا وخوړهٔ

Scanned by CamScanner

يو دردېدلي پښتون ماته ويل
ما د مړانې انجام هم اوليدو
ځکه ويښېږمه د خپل سپوږي ته

❁ ❁

خدای شته چې مرګ مو هم وړلی نه شي
چې مو شيندل سرونه، لار کښې د حق
د کربلا تاريخ مو بيا نوی کړو

❁ ❁

راټيټ وم د اسمانونو غرور
په سر مې توره اوښانده ده خو
د سر بازۍ لوبې مې پرېښې نه دي

ketabton.com - The Digital Library



ژوند دَ غریب صحرا کښې نهٔ تېرېږي
زخمي احساس په اخر چرته اوړم
ستا دَ تصویر ستر که رنده اوخته

❁ ❁

دَ حبس نه مړهٔ نهٔ شو شیرینې زما
تازه هوا یه اوس په کومه راځي
هاغه یوه دروازه هم پورې شوه

❁ ❁

شیرینه دا هم اوربدلے نهٔ شي
ورته چې وېم زما برنې خوښه ده
زړه شو نړې او چې اننګي ته اوځي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



بیا مې سپوږمۍ تندرنیولې ده جوړه
پرده کښې نغښتې پلوشې دَ نظر
زما په زړه باندې تیاره راولې

❀ ❀

ځان تر ښه تل په فاصله ساتمه
خو بیا چې هم آرام ته نه پرېږدې ما
زړدې واده شي چې ترې خلاص شمه زهٔ

❀ ❀

منه دَ طمعې کور خالي وي منه
څه په جرګو باندې صحرا ته دَ ژوند
باران چې راشي نو طوفانونه اوري

Scanned by CamScanner

نور دَ رقیب په خوله باور مهٔ کوه
چرته په خر یاندې هم ناست نهٔ دې خو
وائي جهاز کښې مې سورلې کړې دې

❁ ❁

دَ پېغلتوب پېڅې راپاړې نهٔ کړې
بلا مو دې اوشوه شیرینې زما
چې هرو خوله مې په خوله اېښې نهٔ ده

❁ ❁

دَ ناوې توب نخرې دې نهٔ منمه
مهٔ وېښه پلار کره دَ تلو خوبونه
اوس خو دَ شلو بچو مور شولې ته

ketabton.com - The Digital Library



اے د طلاق د نوم نه مړګ بښه ګڼې
خوا ازادی ئې دومره خوښي دي چې
چرګ چې هم بانګ اووائې بام ته رسي

❁ ❁

هاغه خوبونه مانه هېر نه دي لا
لاس چې به تا په سينه کېښودلو
او کوږکو چرګو به هاګۍ شاربلې

❁ ❁

نور مې ماتم په بې وسۍ مه کوه
ستا په بڼو چې اوښکې اوښکې شي ژوند
شغله شغله ستورې په ما پرېوځي

Scanned by CamScanner

که يې ګواښونه دَ نظر ليدې وې
نو مشرانو به وېښلې نهٔ وو
جنګ نهٔ بايللې نه ګټلې بنهٔ دې

❀ ❀

نهٔ مې رانيسي او نهٔ ځان راکوي
دَ مـــداري لور دهٔ شيرينه زما
پرې راسست کړي پرې راکاږي بيا

❀ ❀

ځي خپله نيولې راته اودرېږي لېن
نو دَ بناښت سپرلي تلوار اونيسي
خانه به وشي چرته کږه اوړي

ketabton.com - The Digital Library



درسي سيند خو چاڼ کولی نهٔ شم

يوه دَ ميني سندريزه چينه

اوبو را اوړي وه اوبو يوړله

❁ ❁

شيريني څومره زړه رانيکون وو پيکني

تا مي مړه باندي چاړه راښکله

او ما دَ نوي ژوند تصوير ښکلوُ

❁ ❁

سوچ مي کاوُ څومره بې رحمه دي ژوند

بړ بوکه مي کړي دَ سيند په سينه

بيا راله يو لحظه کښي سر ماتوي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



رنګ رنګ ګلونه مې راوړلي وو خو

چې ته ځې رانغلې نو شيرينې زما

کانو په ما پورې خندا اوکړله

❁ ❁

څه خوندور دَ مينې جنګ دے کنه

زه چې ترې پورته په کوټه اوختم

اُ دَ اښکو مېنځ ته راکوزه شوله

❁ ❁

دَ غم سرخي مې په اوبو لاهو شوې

داسې بدل کړم ازمېښتونو دَ ژوند

لکه چې سرو سره پاره اوکي

Scanned by CamScanner

منافقت دَ ژوند وژلمه خو
نن چې ماشوم ښځې په مخ ښکل کړمه
ما وې که مانه فرښته جوړه شوه

❀ ❀

دَ چهت پکے بې حده تېز تاوېدهٔ
چې ورله مخې له مرغۍ ورغله
ماته ئې خپلې بې وسۍ يادې کړې

❀ ❀

ښهٔ ورته پته ده خو غږ نهٔ کوي
اُف دَ کوچوان کاکا ټانګهٔ کلي کښې
هره ورځ څو مره حادثې زېږوي

ketabton.com - The Digital Library



هر یو امکان مې دَ خپو لاندې دې څو
چې ستا اوږده بانړه رابرند شي په ما
دَ خیل ایجاد لاره کښې څنګه جوړ شمه

❀ ❀

دَ لوګو مېنې مې ژوند خاورې کړو
چې دَ رنګونو تماشې له تلمه
نو دَ بنائست کلي کښې سپوماټ کړمه

❀ ❀

لوبې کوه نڅې درته غږ نه کوم
ستا دَ فریب فریب بنائست نه لوګې
زه دې دَ ژوند په حقیقت پوے کړمه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ویم که څوک ماته اوازونه کوي
په نیمه شپه رانه خوبونه تېښتي
بیا به پېریان بوتل کښي نهٔ بندوم

❀ ❀

چې مې دَ سترګو نه راغلې وو خو
چا راته وېل تا ئې صفت کړے دے
څکه په خپل تصویر مئین شومه زهٔ

❀ ❀

دغې چکر خو زمانې اوخوړې
ستا دَ رفتار مخه نیولے نهٔ شم
څم چرته ځان له بله لار ګورمه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ته چې زما په شا ولاړه وې نو
زه د خپل ځان نه خوزېدلے نه شوم
ستا ښکلتانه مې ځکه ملا ماته کړه

ناوې زما ما نه خوشحاله څه شي
کش چې شي تېزه مې درزا شي د زړه
د ښاپېرو وطن کښې ژوند تېروم

خپله خپل ځان راټولولے نه شي
د اباسین څپې به هېرې شي ستا
که دې رنګونه د اظهار اولېدل

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



خدایه شته په تا پاندې مین یمه خو
مینه د نورو سره څکه کوم
د ژوند ډرامه کښې مې کردار دغه دے

❀ ❀

ستا لوپټې ځان کښې را نغښتے یمه
چې د سفر په نیت روان شمه نو
د هرې لارې په سر تا اووینم

❀ ❀

زۀ سر د لاندې راګوزار نۀ شمه
نن د ژوندون د کوهِ قاف لاړو کښې
ستا د وجود خوشبوئې رقص نکوی

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



څومره کم ظرفه دَ فطرت ناوې ده
ته چې په لېوکېنې او به راکوې
واخلمه اور تنده مې لا زیاته شي

❀ ❀

وائي دَ خپل زړهٔ نه مجبوره یمه
که تهٔ مې اور ته هم وراچوې نو
دواړه لاسونه به دې زهٔ ښکلوم

❀ ❀

دَ سپو نه ځان خلاصول ګران خونهٔ دي
بس یو هډوکے ورته واچوه نو
دوي به پرې خپلو کښې جنګونه کوي

Scanned by CamScanner

دَ موسمونو اعتبار خاورې شو
دَ امتحان مرحله تېره نهُ ده
چینجي غونډېږي دَ کابل مېوه کښې

❁ ❁

په خپلو وینو ئې لاسونه سرهٔ وو
یوې ماشومې په سلګو کښې ویل
توبه، نکرېږي به بیا نهٔ غواړمه

❁ ❁

زهٔ به دَ څهٔ څهٔ نه توبه اوباسم
یو خوا روا کارونه نهُ کوي څوک
بل خوا حیا راځي شرمېږمه زهٔ

ځان به په اوښکو کښې را اونغاړمه
د ګلاب پاڼه په کښتۍ شي زما
بیا د سیند په سر هوار ګرځمه

❁ ❁

سمندرونه مې خوټېږي زړه کښې
په دې طوفان کښې چرته ورک نه شمه
ته مې یوه اوښکه لیدلې نه شې

❁ ❁

زه چې د خپل ښکي ژړا اووینم
هیڅ په ځان پوې نه شمه پاسمه زر
ځان د مور غیږې له ورا ورسم

بس خو ایمان دې خداے نصیب کړي زما
زهٔ نهٔ ولي یمه نهٔ پیر فقیر یم
زما په قبر دې میلې نهٔ کېږي

❀ ❀

لمبې دې د مینې په خوند پوے نهٔ کړمه
ستا ناز مینتوب له سره خلاص نکړي ما
پاسه د مور خوا له دې ځان رسوه

❀ ❀

د لوږې تندې نه به مړ شي آخر
لمڅې سپین بږیري مزدور ماته ویل
د نوښو کټې ته خو لاس نهٔ نیسي

ketabton.com - The Digital Library



دا هم د ځان سره دهوکه ده یوه
اوږدې شپې چې مې په خوب اوده شي
لاړې مې تېرې شي زه ساه واخلمه

❀ ❀

واۍ زه خپل پالنګ ته ځان رسوم
نوره بېخې ایسارېدلې نه شم
ستاسو کتونو کښې کتمل شوې دې

❀ ❀

زه له دروغو نه نفرت کومه
خو له وطنه چرته اوتښتمه
خلق مې وژني که رښتیا وایمه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



راته د کور لاره هم یاده نه ده
تا چې درونه د زندان لرې کړل
اوس به د زړه دردونه چرته اوړم

❁ ❁

څه که د شپې د بلا خوله وازه ده
خو زما لارې له راتللې نه شي
زه ستا د سترګو په رڼا پسې ځم

❁ ❁

دلته په یو حال کښې هم خبر نشته دی
څوک چې له غاره د نفرت راوځي
د محبت توره ئې سر غوڅوي

Scanned by CamScanner

را باندې پورې ده ځکه مخ واړوي
که خپل غمونه ئې پېرزو کړل په ما
مړ به له ډېرې خوشحالۍ نه شمه

❀ ❀

تا ته ګناه نشته شیرینې زما
که ازمېښتونو نه په شا شوې دَ ژوند
چا په توده زمکه قدم ایښې دې

❀ ❀

یو اکائي ده ټول دَ مینې جهان
اوږدهٔ بانهٔ ځې اور کې پاسوي
ستورې په نیمه شپه اتڼ واچوي

ساه دا نه اوځي ويرېږمه زه
چې ستا تصوير سره خبرې کوم
ما نه زما د زړه درزا هېره شي

❁ ❁

ځان چې په ما هسې کوڼ کړے دے تا
اخر به خپله لاره واخلمه زه
تر څو به تا ته اوازونه کوم

❁ ❁

چې ئې د زنې خال ته ګوتې نيسم
شيرينه ما باندې راسره غونډې شي
وائي زه سپينه يمه توره نه يم

زما تصوير ته په ژړا کېني وائي

د تورو غرونو پناه شوې يې خو

ستا د راتلو خوبونه اوس هم وينم

❀ ❀

لور چې اوده شوله زما غېږه کېنې

راسره غم شو ما ويل ځان سره

ستا پېغلتوب راته خبرې اوکړې

❀ ❀

کېني نو ما به څه څه نه وو کړي

خو د رشتو مېنځ کېنې راګېر داسې يم

خوب هم پخپله خوبه نه وينمه

ketabton.com - The Digital Library

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



رب به دې روغه کړي شيريني زما
ستا بيمارې که ډېره هم لويه وي
د رب د فضل وړاندې هيڅ هم نه ده

✿ ✿

د ذهنيت نه يې خبر يمه بنسه
رقيب چې ستا په حقله سوچ کوي نو
دا په ډېران ګربتې بلوي

✿ ✿

زه به ورځم د حادثو مخې له
که مې د ژوند اوربشه پاتې وي نو
دا تندرونه ما وژلې نه شي

Scanned by CamScanner

ما ویروي د دروغژنو رښتیا
چې په اسمان کښې بجلي پرق اوهي
نو طوفاني شپه نوره هم درنه شي

❁ ❁

څسې نه تورې په لمن پورې شي
ښخو کورونو ته هم سئیب اونکي
چې د اوبو وتلو لار بنده شي

❁ ❁

کومه ښکلا دې وایه اوستایمه
ستا انګې چې مړاوي مړاوي شي نو
د موسمونو نه خراج اخلي

ketabton.com - The Digital Library



نور د سپرلو په ذکر نه ستړو ځم
واړه رنګونه چې راټول شي په ځلے
نو ترېنه ستا يوه ادا جوړه شي

ځه خپله لار نيسه پروا مه کوه
مانګے چې ځي د اوازونو په لور
نو سمندر ترېنه کشتۍ ډوبوي

توره او ډال به غورځولي وو ما
خو چې غځېږي د حالاتو شپه نو
چاپېره پړق د اورکو اووينم

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



چې دَ بدن ورېښمې دې ښکل کړمه نو
بیا دَ ګلونو بڼ کښې نه ځائېږم
ما لوګۍ ځان سره واسوزوي

❀ ❀

داسې دَ ګلې دَ چینې په غاړه
چې ستا ښائست دا له آواز راکوي
زما سندرې به ګونګۍ څنګه شي

❀ ❀

په خاموشۍ باندې ئې مه تېروځه
دَ قرېبونو مرحلې غوښې کړه
چې زور پرې راشي نو آواز به کوي

Scanned by CamScanner

څه شوې دَ کلي او دَ ښار فاصلې
کمځې پرانستې جینکۍ را اوځي
او طوفانونه سر راپورته نه کړي

❁ ❁

نمائشونه دَ جلوُو مه کوې
زمونږ دَ کلي دا کچه کورونه
دي طوفانونو ته دَ ټینګې نهٔ دي

❁ ❁

څوک تر ېنه ستر ګې پرانستلے نهٔ شي
زمونږه چم ته دَ سندرو په ډاډ
هوا راوړي دَ لوپټو سېلونه

ketabton.com - The Digital Library
Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ته چې ریښتیا وې پانې چېنل بدلوې

شیرینې دې سوچ کښې راکېږي شمه زړه

دا سلسلې دې رانه ورکه نه کړې

❀ ❀

اوس مې تصویر هم پېژندلی نه شم

پر دو درشلو مې نظر یو ړلو

زه دخپل کور په دروازه تېرېږم

❀ ❀

ا دَ باران شپه دې جوړ هېره کړله

کچه کوته چې څڅېدله په تا

او تا زما دَ کور زنځیر شرنګوو

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



په کور کښې اکیوازې ناست یمه زهٔ
دَ کتاب پاڼې اړوم په مخه
اوس مې په سترګو څوک لاسونه نهٔ ږدي

❀ ❀

اووایې ستا خبرې نهٔ ختمېږي
مور به زما میراته پاتې کړې ما
څم چې کونترو ته دانې واچوم

❀ ❀

بې شکه ته یې زما وهم کنه
خو زهٔ په هیڅ هم باور نهٔ کوم
ما دَ ګنجې لاس کښې ګومنځۍ لیدې ده

Scanned by CamScanner

ما په مرۍ دَ غوا چاړهٔ راښکله
خو چې مې ستا اوښکو ته پام اوکړو نو
خدائے شته زما نه کلیمه هېره شوه

زهٔ به دَ درېو پورې هندسې شمارمه
تهٔ که دَ خپل مدار نه اونهٔ وتې
دَ خپل خاوند سر به دې غوڅ اووینې

وایم چې شل ډزه دې زهٔ اُولم
توره چې لاس کښې دَ دښمن ورکوې
بیا ترې دَ سر خېر وُنه غواړې څهله

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



قاتله ته که ما وژل غواړې نو
ښه په اخلاص راسره مینه اوکړه
زه په ګواښونو درڅو نه مرمه

❋ ❋

زه په الوتې لوګي پسې تلم
لا رانیوه مې چې ازاده مې کړه
ما د مرغۍ خوله کښې ملګې اولیده

❋ ❋

اوس مې داخور وجود راټول څنګه کړم
چې څانګې پکښې ولاړه وې سته
نن مې هم هاغه اینه ماته کړه

Scanned by CamScanner

ذرې ذرې شې د ښکارې تموېکه
ساکانې اوځې له تنکو پېغلو نه
ته چې د زاڼو په سېل ډزې کوې

❀ ❀

خدائے شته چې ځان به په خامار اوچیچم
خو که مې یاد وې د ښائست مسېن منې
ستا په کمڅو کښې به ګلاب نه ړدمه

❀ ❀

هر څه چې کېږې خو لندن ته نه ځم
د خپلې مور یوې خندانه به زه
د غسې شل شل پې. ایچ. ډي. زار کړمه

دا حادثه هم معمولي خو نه ده
پېغلې چې ما سره تصوير وېستلو
ګوره زما کېمره کښې ريل ختم شو

❁ ❁

ګلام ترېنه خندګه په خفګان واړوم
لکه د يُت مې ځان ته کلک اودروي
يوه لحظه کښې د پېړو قيصه ده

❁ ❁

شيريني تا چې ورته ګل لېږه کړه
سيند خونړۍ شولو، په واک کښې نه دې
د ګلي سره خوله ماشومان ړوبوي

څنګه راغلې یمه ستا کلي ته
شیرینې هیڅ رانه تپوس مهٔ کوه
ما دَ خپل زړهٔ دپاسه خپې ایښې دي

سرې مې غوښې کړي نو شیرینه زما
وایي زهٔ دا دَ وینو کرښه ګورم
چې دَ دریاب اوبهٔ چرته اوړي

وه لېونۍ له ګوره مه راوځه
چاپېره کلي کښې سیلۍ الوزي
په تا به لاړه کښې لمن واړوي

چې ستومانې لږه ویستل او غواړي

هوا ئې پانې پانې خور کړي وجود

د ګل خندا هم حادثه ده د ژوند

❀ ❀

شیرینې اوس اووایه څه او کړمه

ما د خپل زړه د غل نه ژبه پرېکړه

خو ماته بیا هم اوازونه کوي

❀ ❀

پرهن ده چې دغسې دې خلق رټي

درته به ګفت قدرې چاکړے نه وو

خو ستا په خوله کښې هره ژبه نشته

ketabton.com - The Digital Library

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



اوس مې تنکۍ غوښتنې وس کښې نه دي
که تا پرې سترګې راوېستلې وې نو
داړه به دومره په سر نه ووختې

❁ ❁

دا سادګۍ نشي تور په لمن
ګوره چې تېز باران کښې بنګلې جینه
د لوپټې د لاندې ځان پټوي

❁ ❁

پلار دې زما بابا ته، ښه کړې دي
که ته زما په خوله باور نه کوې
درشه د مور نه دې پوښتنه اوکړه

Scanned by CamScanner

خبره وړاندې نه پرېکړې بنسټ ده
داسې ځي بوسو کښې اوبه بوځي نو
هسې نه ورسته ترې لانجه جوړه شي

❁ ❁

ته پوه نه شوه نه وې نادانې جینې
که لاس او خپه دې لړه هم شي خطا
بیا به د سترګو لګېدو نه اوځي

❁ ❁

د ګلې دا دستور مې خوښ نه شو لو
پېغلې کټوې په نغرې پرېږدي او
د ګاونډې کره تنور لمبه کړي

آ چې انګړ کښې به چړقاو کوو تا
او زه به تاسو کره درغلمه
نو څومره خټې به ترې جوړې شولې

په زړه کښې ځان سره کرم رېبمه
دې کښې به خاورې سترګې ورشي زما
پالنګ چې تو له شپه چغار کوي ستا

خاورې څوک پوې شي په خوندونو درګوند
زموږ وطن کښې چې سپېږلي راځي نو
لوبزه دَ مینې په اوګو سوره شي

دَ سیخکو غوندې ژوندون دے زما
توره تیارهٔ کښې پلوشې وړشمه
دَ ګلبدنو لاس کښې اور واخلمه

❁ ❁

نن یو سپین بزیرې په ژړا کښې ویٹل
لونه مې تښتې ایسارېږي نه اوس
بیا به طوطیان په کور کښې نهٔ ساتمه

❁ ❁

خاوُړې به وده زما قام اوموي
اونه چې هم دلته راپورته کړي سر
زلمي ئې ځانګې په تبر ونو وهي

ketabton.com - The Digital Library
Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



لا خو دې سترګې غړېدلې نه دي
د ژوند رنده به دې هوار داسې کړي
دا ستغې سپورې به له تا هېرې شي

د ژوند يوې غرمې دې زور اوبه کړو
دا حادثې خو به راځي او ځي به
او لا خو ستا د زنې خال تازه دے

يو د اتيا کالو سپين ږيرې بوډا
ګوري په ډش باندې بربنډ فلمونه
او ناست دے لاسو کښې تسبې اړوي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



اوس چې د سیند په غاړه ناست یمه زه
او د اوبو څپې راتاو شي له ما
وایم که ستا د زړه درزا ټسپزه شوه

❁ ❁

سترګې چې مانه اړولي دي تا
زه د ساحل طرفته زور کومه
خو د دریاب څپې مې ځان سره وړي

❁ ❁

نن خو مې ټول بدن دړدونه کوي
شیرینې غېږه کښې مې کلک اونیسه
که ستومانې مې د وجود اووځي

Scanned by CamScanner

ته ګل فروشه، زه مئين د ګلو

ستا او زما نظر کښې ډېر فرق دے

ته په شپېلې زه په شپېلو پسې ځم

❀ ❀

اووايې دا فضول خرڅې نه منم

هاغه مېرمن مانه خفه ده په دې

هفته کښې دوه ورځې پانځې خورمه زه

❀ ❀

ساده جينۍ ئې هسې ځان ولې خورې

هغوی د شمعې وجود څه اوزغمي

څوک چې په ګلي کښې سکاره پېټوي

پېغلې زلمي د ښار د پارک په خوله کښې

څو مره د خپل مقام نه لاندې راځي

چې د موټر تورې شیشې خېژوي

❀ ❀

لمحې د ژوندون غوښتنې نه پېژنو

خدائے شته چې سل کاله په ورستو لاړو

مونږ چې یوه ګښته کښېر وړاندې کړه

❀ ❀

دا بې حسی به مانه ساه اوباسي

د ژوند احساس پکښې غورځنګ نه کوي

ستا د ځوانۍ تصویر په خوب اوده دے

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



رو رو مې تا نه اعتبار پاسېده

ستا محبت هم اخباري بيان شو

د پروف خامې پکښې بلا ډېرې دي

د ژوند په داسې مرحله کښې يمه

هر يو ماشوم چې راته اوخاندي نو

زما پرې مينه د بچو ماته شي

چې يو طوطي مې بنديوان اوليدو

وېل مې کېس جوړ په پنجره کښې شومه

رب دې وزرې د چا نه پرېکوي

Scanned by CamScanner

چې په اسمان کوږې وريځې راشي
ماته د هاغې چم قيصه ياده کړي
چې اوسېدونکي ئې سېلاب اوړي وو

❀ ❀

خدائے شته د کور مې دروازه نشته دے
خو زۀ راګېر په دې غرېب کښې يمه
چې هواګانې ماته ور ډبوي

❀ ❀

زړۀ مې درز پرې چې ئې اونۀ وينم
د سميّه او د نعمان مينه مې
په خپل حسّان پاندې هم ماته نۀ شي

ketabton.com - The Digital Library



په خيال اوباسه ستوماني شيريني

څه بې حجابه دي دَ نمر پلوشې

ستا تصويرونه په دېوال جوړوې

✽ ✽

درنې ورېځې په اسمان شوې خورې

اوس دَ ځنګل نه په تلوار را اوځه

دلته دَ تندر غورزېدو وېره ده

✽ ✽

اے دَ رنګينې لوېټې مېس منې

ته چې اوده ئې او سيلۍ والوزي

وېرم که هندو رانه کشمير يوړلو

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دَ ګودرونه دَ ښائست بَلبَله
چې دَ اوبو ښاڅکي را اولي په ما
نو چارچاپېره په کلي اورېدوړي شي

❀ ❀

ته که سوره شوې دَ هوا په اوګه
خو دَ اثر نه مې وتلے نهٔ شي
زما دَ اس رفتار به تالاندې کړي

❀ ❀

زهٔ چې سر تور سر جینکۍ اووینم
په زړهٔ کښې ځان سره کرم ریبمه
دَ وخت طوفان به مونږه چرته اوړي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ما له زما دَ سوال جواب راکړه ته‌ٔ
مېړمنې نیت که دې صفا وي دَ ښېږ
بیا په ویښتو ولې حضاب لګوې

تا چې زما په لاس دستخط کړے وو
داسې شو وران لکه دریاب دَ کلي
کچه کورونه په اوبو لاهو کړي

ځان مې په اور پورې نیولے دے بس
که زما سوې ځے ته پام نه‌ٔ کوې
ما سره هیڅ نشته ثبوت دَ مینې

Scanned by CamScanner

مینې د ژړې مازیګر ګړسه ژړه
تا چې سوې پوړۍ را اخلته کړمه نو
پوه شه خطا کېږي ژوند مې تشه تېره شوه

غم زما زړه داسې ځوروله نه دے
ډېرې چې ځان پاندې خوارۀ کړي دي
خو د خدا هسې چې زړه نه شولو

دغه احساس به پوهوا اوړي ما
پېغلې چې هسې هم تندي ګروي
وایم که ماته سلامونه کوي

ketabton.com - The Digital Library



اوس که زه مرمه خو خوابونه به وینم
یوې کمزورې د انار اونې نن
یو زور اور طوفان په شا تمبوو

❀ ❀

نن مې جوړ بله خودکشي اوکړله
ستا لوپټې نه چې مفلر جوړ شولو
زما شمله نوره هم هسکه شوله

❀ ❀

دغه علت به ترپته خنکه اوځي
د بیدارۍ نغمه چې وایمه زه
زما د قام زلمي په خوب اوده شي

Scanned by CamScanner

دَ کاڼو ښار دے ګوري پام به کوي
بیا به خپل ځان راټولولے نهٔ شم
ستا دَ سنګار آئینه ماته نهٔ شي

❁ ❁

دا خپل ښکاري قطرت به ما ډوبوي
چرته چې اووینم روانې اوبهٔ
وېږم که په زانو پسې منډې وهم

❁ ❁

ګوتې په مروړې بیا، خوځې به نهٔ وي
زما رقیب دَ اوچې دم دے ګوري
وه لوګی په فاصله ترې اوسه

ketabton.com - The Digital Library
Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ژوند د بقا د اندیښنو مېوه ده
که د تخلیق شعور ښځې نه لري
نو چرګه ولې په هاګو ناسته دي

❀ ❀

د موسمونو جېبس او خوړې جوړ
د ښار ښځه بنګله چې ته پرېږدې او
د کلي ښار کور ته ترې کړه کوي

❀ ❀

نور د کبیل تارونه مه خوروه
زما د ژوند تصویر ترې نه سازېږي
ستا د تهذیب رنګونه ما اولیدل

Scanned by CamScanner

دَ کاڼو ښار دے ګورې پام به کوې
بیا به خپل ځان راټولولے نهٔ شم
ستا دَ سنګار آئینه ماته نهٔ شي

❁ ❁

دا خپل ښکاري قطرت به ما ډوبوي
چرته چې اوویښم روانې اوبهٔ
ویم که په زانو پسې منډې وهم

❁ ❁

ګوتې په مروړې بیا، خوشې به نهٔ وي
زما رقیب دَ اوچې دم دے ګورې
وه لوګید په فاصله ترې اوسه

ketabton.com - The Digital Library



ژوند دَ بقا دَ اندېښنو مېوه ده
که دَ تخلیق شعور ښخې نهٔ لري
نو څرګه ولې په هاکو ناسته دي

❁ ❁

دَ موسمونو چیں اوخوړې جوړ
دَ بنار پخه بنګله چې تهٔ پرېږدې او
دَ کلي شاړ کور ته ترې کړه کوې

❁ ❁

نور دَ کېبل تارونه مهٔ خورَوه
زما دَ ژوند تصویر ترې نهٔ سازېږي
ستا دَ تهذیب رنګونه ما اولیدل

Scanned by CamScanner

له دې د ښـونو نه بهر راوځه

لا که خبرې ئې زده کړې نهٔ دي

دَ خاروني مخوکه مهٔ پرېکوه

چې په ځنګل کښې په ما شپه راغله نو

سپوږمۍ دَ اونو منځ کښې ځان پټ کړلو

ځان ته دَ چا سترګې رایادې کړمه

خداے شته زما دغه مطلب خونهٔ وو

ماچې در یاد کړو دَ مشکنو امیـــل

په تا نرۍ نرۍ خوَله راغلله

ketabton.com - The Digital Library



ستا صحبت کښې مې خپل ځان ګڼه کړو
لاس کښې مې هیڅ نشته شیرینې زما
تا له ګجرې له کومې راوړمه زۀ

❁ ❁

ستا سادګۍ مې زړۀ وړي ، لېونی
تۀ له هغوي نه دَ څېن طمع کوې
څوک چې مدام ګلې کښې سپې جنګوي

❁ ❁

دَ انتظار لمحې قیامت وي ګلې
زۀ داسې څاڅکې څاڅکې ویلې شومه
لکه ګلاب چې څوک په اور اوبیسي

Scanned by CamScanner

چې ئې زما د پاره کور پرېښې وو
اُ لېونۍ دومره بې وسه شوه چې
زما کتاب په کباړي خرڅوي

✽ ✽

دَ دوارو روغه اوس بلا گرانه ده
لاره دَ ژوند ترې بېله کړې ده ما
وخت په یوه ځې زهٔ په بله ځمه

✽ ✽

نن یو بوډا ته اېسنې اوویل
ستا دَ غوږونو وینته هم سپین شو خو
اوس هم دَ پېغلو په خندا تیروځې

ketabton.com - The Digital Library



موږ د صحرا غریب کښي ژوند تېرو

خاورې سموو او خوري کاروونه زموږ

ناست یو مدام له شګو پرې غرو

❁ ❁

نه زور منو او نه زیاتي کوو موږ

واوره د امن په غریب کښي ورکه

موږ ه د باز منسوکې نه پرېکوو

❁ ❁

تازه تازه وي د دالان سپوري ته

پازه ئې مراوي کړي د نمر پلوشې

پېغلې زموږ د مني پلانې غوندي دي

Scanned by CamScanner

ښکاره کوم ئې د ځوانۍ رنګونه
زۀ د فطرت ناوې د لاسه نيسم
او په ډولۍ کښې ئې د خيال کېنوم

❀ ❀

شيرينې ګرځم د کلام لارو کښې
چې ستا د ژوند غمې راپادې شي نو
د ګوړو اوښو بڼ کښې اور واخلمه

❀ ❀

او منه سر به دې د خپو لاندې کړم
په هېڅ فرېب کښې راګېر به سه نه
زۀ د مارانو نسل ښه پېژنم

ketabton.com - The Digital Library



که یو څو ورځې وي برداشت به کړم
زه دومره لویه سینه هم نه لرم
چې تل به ستا ماشوم له پېره ورکوم

❁ ❁

زه د ګناه بازار ته هم تللې وم
خو چې د مور اوښکې رایادې شوې
توبه مې اوویسته واپس راغلمه

❁ ❁

لار پېکښې نه مومي د نمر پلوشې
تازه هوا پکښې بېخي نه لګي
د ژوند په داسې تاخانې کښې اوسو

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



زما په تشو کتو اور لمبه شي
خو هاغه وخت کښې د پښتو چرته دي
د ښار درزیان چې دړله ناپ اخلي

❀ ❀

د ابادۍ په کښې درک نشته نګي
د ښر مغانو اوازونه اورم
په ما په داسې ځاے کښې شپه راغلله

❀ ❀

اوس زهٔ د کلي په ناموس باندې مرم
ما چې مې لور ښکل کړه په دواړو مخو
یو د رنړا سېلاب کښې ورک شومه زهٔ

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دَ پلوشو سفر دي وړاندي ځي خو
دَ بشائستو نو دَ سپوږمۍ انتظار
زما په مخ توري حلقې جوړوي

❁ ❁

ستا په يادونو کښي مې ژوند خوندي شو
دا دَ دریاب دَ سر نقشو نه نه دي
چې حادثې يې دَ ځان سره وړي

❁ ❁

شیریني ستا خو ځلو به خوبني وي
چې خپلي بدي ورځ ته اوګورمه
نو زما سپوره نمرۍ هم اونخلي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



هیڅ پابندي چې په تا نه لګوي
مخ کښې هر وکې راوستلي دي ستا
ته د خاوند ازاد خیاله یوړلې

❁ ❁

منم چې ته ما سره مینه کوې
خو زه دې بیا هم خپلولے نه شم
ستاسو د کور چار دیوارې نښتے دے

❁ ❁

هیڅ ازادي راته حاصلې نه شوې
وضاحتونو کښې مو ژوند تېر شولو
مونږه په یو بل اعتماد نه کوؤ

Scanned by CamScanner

پېغلې ویښل خپلو همزولو ته نن
چې د ښکارې د سترګو شمع مړه شي
هله په خپل پالنګ کېنې خوب اوکړمه

❀ ❀

ته د کابل یوه ساده پېغله یې
زه خوشحال بابام چې نزدې راځې خو
ځه! د بابا پوزه دې مه پرېکوه

❀ ❀

د ښار میرمنې ته خبر یې که نه
د یو مزدور سترې ستومانه وجود
څومره دمه شي چې ستا کور اووینې

چې منډې ترړې مې د ژوند ستړې کړې
سترګو ته ستا تصویر راوړاندې کړمه
زۀ د وختونو له ځکه نۀ اوځم

❁ ❁

اوس زۀ خپله په ځان شک کومه
ټول راته وائي بدعمله ئې ته
مینې زما د ځي ګونه ورانه کړه

❁ ❁

ما دې په سر لوئې دعوې کړې وې
خو تا زما د لاسه لاس راښکلو
اوس زۀ په کوم تاخ کښې ځانګې واچوم

په شرق دې اولګي رسمونه د ښار
چې د کمرې کړکۍ مې بېرته کړله
ما د هوسۍ کټ کښې مېلو اوليدهٔ

✿ ✿

خومره بسياره دے درياب د مينې
وېم که ما تخت د سليمان قبضه کړو
پېغلې چې تا ماله تپانې راکړله

✿ ✿

د يوې پېغلې بې وسې مې وژنې
تنده ماتېږي نه زما د نظر
ناوې که ټوله د کالو ډکه شي

ketabton.com - The Digital Library



تهٔ راته خاندې خوشیرینې زما
د ژوند له خپې نه مې باور پاسوې
ستا په کمڅو کښې چې ګلاب مړاوې شي

✿ ✿

د هر سپرلي د موسم دو نه مخکښې
مونږ د نښتر د اونو کُر کړے وو
ددې سړک غاړې خالي ولې شوې

✿ ✿

بوټې چې دې لږ هم په اوږدو پریوځي
لکه د چرګې اواز نه کوي
تهٔ د تخلیق عذاب زغملے نهٔ شې

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



داوره راغلې چې ساختنی له ئې ته
سترګې له تانه څکه نه اوباسم
چې دغه سترګې دې ویستل غوارمه

❁ ❁

زر ده چې شاړې شي جړې دَ کلي
اوس که زلمي چرته یو ځائے اوینم
خپله درنه او دَ بل سپکه واڼې

❁ ❁

سر توری مه راځه زموږ کلي ته
تا چې په کومه زمکه خپه ایښې ده
هلته دَ خلقو نه ځای اوښې دي

Scanned by CamScanner

دَ مرګ په خوله پاندې دَ ژوند زيړی دے
هلته چې ستا ستړهٔ اننګي اوبو شو
دلته دَ کاڼو نه شغلې اووتې

❀ ❀

دَ ښار بې حسه مرمرينې پېغلې
کله چې ستا بدن خوَله اونيسي
وېم که څوک بُت دَ سومنات لامبوي

❀ ❀

يوې ښارۍ راته سنګوکېنې ويل
تا ته زمونږه دَ ژوند پته نشته
هره دَ ښار جينۍ خرابه نهٔ وي

دَ سمندر چپې شمارلې دي چا
زما دَ غم ما نه تپوس مهٔ کوه
چې ته حساب کتاب کښې تېر نهٔ وځې

❁ ❁

اوخاندې ماته، لېونۍ اووائې
ځان دَ ژوندون سختو ته ځکه نیسم
دَ غرهٔ لمنه کښې چینې را اوځي

❁ ❁

دَ احساساتو ژبه مهٔ ګونګوه
دَ خوشحالو اظهار دَ ځان دپاره
دا ګسېراګانې ضروري نهٔ ګڼې

ځان مې د ژوند پنجره کښې بند لیدلو
چې د وجدان دروازه بېرته شوله
ما د زرګونو کالو لار سر کړله

څنګه به حق د چارا لاندې کړمه
ما د ریل ګاډي د پایو منډه کښې
د یو مزدور د سر ټوټې اولیدې

جوړې زما ضمیر په حق اورسېد
ګوره چاپېره اذانو نه کښېږي
څو د خپل ځائے نه هرو ړق نهٔ وهم

ketabton.com - The Digital Library



خولې له يې نهٔ راوړمه وږم کوي
تا چې د سود په مال خيرات کړے دے
په ما حرام شه، د خنزير غوښه شه

❀ ❀

لمسي بې ځايه انديښنو اوخوړي
ګمنۍ نو ستا نه کېږ چاپېر شيږينې
قلا هم تاوُ ده او رڼا هم شته دے

❀ ❀

تبه که ستا سر ته ختلې نهٔ ده
پړ پړ ده د مينې په جواب کښې به تا
د خپل کاکا زوے ته کنځل نهٔ کول

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



اُف څه ټپه ښسینه وائي
دَ هایکو خوږ جواب نشته دے
څوک دې اظهار غوندې غزل اولیکي

هره موقع دَ لویو ټوقو نهٔ وي
کار چې وران اوکړې نو نخرې مهٔ کوه
هسې نه تاله په مرۍ غلے شم

زما ناموس له هرڅه مخکښې دے خو
دَ خپل قامت پروا دې هم اوسنکړه
دا مې په کم فهم کښې تصویر ځایوي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ما درته خپل خون درېخښلی دے خو
دومره را اووایه ښیې ینې زما
ته مې دَ ژوند جواز په څه رد کوې

❁ ❁

څه لیونتیاري خپله لاره نیسه
ته ورته ځکښې ورستو کېږې څله
سپي به په تا پسې زنځیر اوشلوي

❁ ❁

چاپېره ګورم او قدم اخلمه
زۀ دَ ناموس ساتلو غم کښې مدام
تل دَ ښکاري دَ سترګو لار څارمه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ستا شخصیت د اوبو څک دے منه
څه که د خپل خاوند ناموس نه شولې
بیا اخر ښځه ځان ته وائې په څه

❀ ❀

اې چې له ورایه به ئې زه اولیدم
او ناګهانه به ئې خوله ګونګه شوه
اوس د طوطي په شان خبرې کوي

❀ ❀

وېم که څوک ما یاندې کورې ورووي
د پښتنو ښځې چې اوویښه
د ګرګي دپاسه خپې واړوي

Scanned by CamScanner

منم زما دَ سوي مخ شيرينې
ښځې په تا باندې اثر نشته خو
ګل دې په لاس کښې پاڼې پاڼې شولو

❀ ❀

يو پنجابې راته پېغور کوؤ چې
اَ پښتنه پېغله مدام ما سره
دَ سيکس موضوع باندې خبرې کوي

❀ ❀

پېغلې چې نن ستا دَ دُرشل مخې ته
ماتې ټرندې دي دَ بکسونو پرتې
چا جوړ دَ خپله کوره غلا کړې ده

ketabton.com - The Digital Library



د کائنات د زړهٔ دردناء یمه خو
چې ستا د سترګو رڼائې ته شي
وایم که غار کښې د تیږو بندي یم

❀ ❀

ګوتې چې شمارمه په سوچ کښې ورک یم
شپې ېې ماته لېونے مه وایه
دا خو زهٔ ستا ېې وفایۍ یادوم

❀ ❀

ستا د فرېب له ژوند نه مړک ښهٔ ګڼم
د سمندر څپو ته ځان سپارمه
خو د کاغذ کشتۍ کښې نهٔ کېنمه

Scanned by CamScanner

دَ هایټکو ناوې خبره واوره
اوښکه زما دَ بدن ټوله وینه
خو زما قام ته اورکې پرقوره

❁ ❁

شسین ېنې رب دې په امان کښې لره
ستا به دا اوبښکې له ینهو اوچې شي
خو زهٔ به څاڅکې څاڅکې ویلې شمه

❁ ❁

دَ موضوعاتو ځنې کمې نشته خو
ستا دَ بنائُست لمن چې نهٔ پرېږدمه
په ژوند دَ مینې حکومت غواړمه

ketabton.com - The Digital Library



دَ هر مانځه نه پس دعا غواړي دا
مات يې کړي ربه دَ دښمن لاسونه
زما جانان ته چې تاوان رسوي

❁ ❁

واوره دَ خور او لور ناموس ساتمه
بیا دا سې ما یاندې راځیږه نهٔ شي
ګنې نښه کینې به دې سر پورته کړم

❁ ❁

دَ ښار او بو درنه لشه اوويسته
شور چې شي ساز، په سوره ننوځي
تا خو دَ سر دپاسه سر نهٔ منهٔ

Scanned by CamScanner

اوس مې په سترګو باندې ښهٔ نهٔ لګي
ستا ځانګېدلې پرتوغانې خاورې شه
دَ غمې سرخې دې په اوبو یوړلې

❁ ❁

تهٔ چې ښځې ښځې خبرې کوې
زما جانان زما نیازبین بچیه
وړم چې په دواړو مخو ښکل کړمه تا

❁ ❁

اوس راته خپل زخمونه ښائې ځله
چې په یو ځائې کېنې ګړه وړه جوړ شي نو
بیا پکښې هر څوک په غونډ سکو لګي

اوس به سنګار له د ځان څرته درومې

تا چې په کاڼي زما مخ ویشتلو

نو آئینه دې د کوږ ماته کړله

❀ ❀

پوزه دې پرې مه شه د قام لیونه

دا ته د کلي په دې شاړه لاره

اووایه هر مازیګر څرته زغلې

❀ ❀

د ژوند د هرې کشالې سمون وي

لږ به دې ماته انتظار کړے وے

دومره د لوے توپ ضرورت خو نه وو

اسمان ته رسم په غور ځنګ دَ مینې
ځان راته خدایګو شاه‌زاده ښکاره شي
ما چې شیرینه په پنړوس اولې

❀ ❀

دغه شعور ورله ورکړے دے چا
ښکاري چې کوته په کوترې کښېږدي نو
پس شي له اونو نه مارغان والوځي

❀ ❀

ما دَ تاوان سودا خو نهٔ ده کړې
وُرک چې دَ زلفو په ځنګل کښې شمه
دَ بنا سُتونو خزانې اومومم

ketabton.com - The Digital Library
Scanned by CamScanner

دَ ښائستونو خوب که هم اووینم
دَ ازغکو ترنځې اوبهٔ اوڅکمه
لمبې دَ ځوانۍ په خوږو پوګنه شومه

❀ ❀

دَ مورولۍ جذبه دې ستا یمه زهٔ
تهٔ چې پردې ماشوم هم اووینې
ستا له سینو نه دَ پیو دارې اوځې

❀ ❀

دَ کور کارونه درته پنځه پراته دي
غریبه پېغله يې سنګار مهٔ کوه
ستا په قسمت کښې شاه زاده نشته دے

ketabton.com - The Digital Library



خهٔ ناروا پېغله ده ماته وائي
ستا په سینه به ګکوم منګولې
خو داسې کلک رانه مړوندمهٔ نیسه

❁ ❁

زېړګې زېړګي، سلګۍ سلګۍ شیرینې
ما دَ پېښو پنجو کښې خوب لیدلو
چې شړنګانو راته خولې وازې کړې

❁ ❁

ستا دَ رڼتیا خبر و تاب نهٔ لرم
نور درله ځې له درتلے نهٔ شمه
زهٔ به دَ کوم کوم سوال جواب درکوم

Scanned by CamScanner

اوچ تار به ستا په بدن پاتې نه کړي
څومره وير بېږي په ځان، خورم خوږي نه
يو څو شپې کېته، شپې دې بس

❁ ❁

مينه رښتيا دَ بدن وينه او څکي
لا ستا دَ کور مخې ته ناست نه وم
زړه مې ستومان، خپې مې مېږې مېږې شوې

❁ ❁

ځه ليشتينکي مخ دې ورک شه، زغله
اُ دَ چينار چينار قامت مېرمنه
تا په کمڅو کښې اوبزانده نکړي

ketabton.com - The Digital Library



زهٔ تقدس دَمینې ننهٔ ردکوم
خو ما چې چا باندې باور کړے دے
هغهٔ مې سترګو ته راتجهٔ اوړې دې

❁ ❁

بُت دَ رنګو نو زما نهٔ دے پکار
زهٔ په ستاینه دَ ګل څهٔ اوکړمه
چې خوشبویانې رانه لار بدلوي

❁ ❁

تورو وچو راکښې لشې پرېښې دي
اوس چې اوږدهٔ بانهٔ رابرندشي په ما
زما بدن باندې وېښتهٔ اودروي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



خاندي خوانږه خوانږه راګوري مدام
دوه قاتلاني دي راځي راپسي
ځان له دڅا په توره سرغوڅ کړمه

❁ ❁

دستر ګو تور دي دغزل مطلع کړم
داسي راځول تقسيم شومه زه
لکه دکاڼي په منځ نيم شومه زه

❁ ❁

د ارام سپوږي مي حلواق تيږ وي
چېره که اوښه د صحرا ګوره ده
د ژوند په لاسو کښي د مرګ توره ده

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



اوس هاغه ګودر سپوږمۍ د شال څرنه دے
چې ستا په مخ، زما په زړه مېشته وو
او وا يه ستا د زنې خال څرته دے

❁ ❁

ددې ماحول جادو کېږي ګېره نه شي
چې د هوا رفتار کمېږي دلې
رو رو چېچې د سمند رتېزې شي

❁ ❁

راشه په ساه ساه کېږي مې ستا مېنه ده
ستا که باور نه وي زما په ژبه
زما د زړه درزا ته غوږ اونيسه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



اوس دَ سکښې مابنام تصویر جوړوم
چې ستا څوانۍ ته درنږدې غوندې شوم
زهٔ دَ لمبې دَ سر لوګے غوندې شوم

❁ ❁

ستا دَ بنا ئست خمار چیچلے دے جوړ
څنګ که زهر ئې په تن کښې نهٔ وي
دَ اباسین په خوله کښې څګ ولې دے

❁ ❁

سیلۍ چې کلي کښې راوالوتله
چرګو وزرو کښې راټول کړه بچي
ژوند دَ نسلونو دَ بقا نامه ده

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



خفه په خپله تنهایی نه یمه
خو ساه مې اوځي چې د کور اوته کښې
زه د مرغۍ بچې یوازې وینم

د اوریسنټل بلاک په اوږدلان کښې
زه چې په هرې زاویې ګورمه
د قاتلانو سترګو شیش کښې یمه

د غم ځپې د سړي مخ ورانوي
د یوې مور ژړا لیدلې ده ما
اوس د مرغانو بچي نه رانیسم

Scanned by CamScanner

زما اواز به دې زړه تږی اوچوي
ما په شوکېس کښې اېښودلې نه شي
خه د ډیکوریشن پیس خو نه یمه زه

❁ ❁

سم راته ښکاري د پښتون ښځې دي
اول دې ماته رابېره کړي او
روستو بیا راشي تا په شا تېروي

❁ ❁

زما د مرګ نه سترګه نه رپي خو
چې حادثې لاره کښې اووینمه
نو د جهاز نه په چترۍ دانګمه

ټکیا وي ټوله ورځ کاروونه کوي

خو دَ جنډيو په ټبه نهٔ پوهېږي

ما دَ روبوټ سره وادهٔ کړے دے

❀ ❀

زما کتاب چې جينکۍ اولسولې

اووائې دا زلمے به چرته وينو

دهٔ خو زمونږه نه ښځې ويستې دي

❀ ❀

لوږه دَ مينې په مرۍ غلې شوه

ماته ئې سپوره ډوډۍ کېښودله

پېغلې ښځېله پراټې اوخوړې

ketabton.com - The Digital Library



شیرینې مه څه دَغوبل مخې له
بیخي له منځه ترینه ځان اوباسه
چې تماشګیږ دَ نخښې منځ نه اولې

✿ ✿

دَ ژوند پایه څه ناروا تېزه ده
دا هم زما دوه تصویرونه دي خو
دواړو کښې هیڅ مناسبت نشته دے

✿ ✿

رانه یه ساه ډېره په سخته اوځي
وړنے چې ما نو دَ نیائست سېرمنې
بیا دَ ګلونو ډالۍ مه راکوه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



په شرق دې کته او تاوان اونګي
دَ ګل ورېږې چې پکښې اور اخلي
داسې وطن دې په سيلاب لاهو شي

❀ ❀

زما سينه کښې ئې خپل سر پټ کړلو
زړهٔ ته مې نوره هم راجخته شوله
ويل ئې مهٔ ځه ماپيريان ويروي

❀ ❀

دلته دَهر چا په تندي کونجي دي
ژوند ته هم چې دَ خندا ورغني
زړهٔ دَ کاغذ ګلونه هم نهٔ ګنم

Scanned by CamScanner

اُ که همام دے که سعود، اسامه

که فائقه که ثوبیه که سعد

ټول مې د مینې د اسمان ستورې دي

❀ ❀

د لوئے قدرت مالکه ما او بخښه

که اراده مې نهٔ وه جرم خو دے

د خپلې مور غاړې شهید کړے دے ما

❀ ❀

رانه غزوه د بدر هېره نهٔ ده

که آخرې ساکانې هم اخلمه

زهٔ به د خدائے لار کښې جهاد کومه

زۀ خبره پخې نهٔ یم خوشحهٔ اوکړمه
ستا په لاسونو کښې چینجي اونشي
په خپله مور هم گوزارونه کوي

✿ ✿

ډېر لوئے کړاوُ غواړي یو والے دَسوچ
خېر که مې ښځه په مزاج نهٔ رسي
زۀ خو لا مور هم پېژندلے نهٔ یم

✿ ✿

زۀ دَ خپل قام دانشوران پېژنم
زما په سوال به غلي پاتې شي ټول
او دَ سگریټ نه به لوگی پورته کړي

درته چې ګورم د خالونو په داغ
د اوښکو زهر مې مړه پړسوي
اسمان د ستورو ادیره خو نه ده

❁ ❁

کم اصلي ښځې نه دي او ساته رب
خدایه ښته که مړه دې کړي خو نه سمبړي
د سپي لکه به د چا پلار نیغه کړي

❁ ❁

ما چاله سترګې توري کړي نه دي
پېغلې زما په لمن داغ لګوي
رانجه چې پوري کړي نو ژاړي څله

ketabton.com - The Digital Library



پېغلې ویښ لاړمه ډوبه شومه
زړهٔ په چا سپېڅلي دَ موټر مالکان
بیا به زهٔ لفټ دَچا نه نهٔ غواړمه

❀ ❀

دا حُسن بنهٔ دَ غاړې غور شي زما
سنګسار سنګسار مې شي احساس دَ وجود
زهٔ چې ماشومې لوړ له پړق ورکړمه

❀ ❀

ماتم ماتم شوه دَ ساحل سندره
زما جونګړه جوړ سپېڅلي ده چا
ما دَ دریاب په سر ایښې اولیدې

Scanned by CamScanner

رانه خوبونه تښتولي دي تا
دا څه پېريان درباندې ناست دي اخر
په نيمه شپه چې ستانه چغې اوځي

❀ ❀

ځکه زهٔ ستا په خوله باورنهٔ کوم
که تاته ياد شي نازنينې پېغلې
تا به مېن کاتو کنې تېکي کوله

❀ ❀

بې ځايه وېرې مو ځواني خاورې کړه
سرته رسېږي نه کارونه دَ ژوند
پېغلې راځه چې دواړه مينه اوکړو

ketabton.com - The Digital Library



منم خوږې اوبه دي د غم سپوږې دي
خو دې پړاو ته د راتلو نه وړاندې
ډېر مې د خپله ځانه اور وېستی دی

❁ ❁

تا چې زما تصوير په مخ بنسکل کړلو
وينې مې ټول بدن کښې جوش اوهه
سمندرونه مې د خيال سپوږې شو

❁ ❁

په شوګيرو باندې ستومانه يو اوس
بېګاه مو ټوله شپه خبرې اوکړې
خو پټ مو اوساتل د زړه حالونه

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



ستا په لمنه باندې داغ نشته دے
دا خو سپوږمۍ خپله ځوانۍ تاسره
یو څو ساعته امانت ایښې ده

❀ ❀

دَ کُوکو پرېښر دې سېوا دے بلا
ساده جینۍ اور ورته مهٔ تېزَوه
په چم ګاونډو کښې چرته به اونځوي

❀ ❀

زهٔ بې وسې باندې یقین نهٔ لرم
دَ خپو دَ لاندې به ئې زمکه خو وي
که دَ غریب په سر اسمان نشته دے

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



پېغلو سېندونو ته منګې مه اوړئ
څوک ساه لرونکې ځوی کړې دې جوړ
داچې اوبه بوږ بوږکې جوړوي

❁ ❁

چې پرېږدې مخ زما اووينې
ته په خندا اووايې ژاړې څله
راځه چې زه درله ژبې ماته کړم

❁ ❁

دَ بد نصيبو په دې وران کلې کښې
مرغان چې جالې جوړوي شيرينې
دَ طوفانونو علامې بنکاره شي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دَ هر یو ګل دَ زړهٔ سندره یمه
دَ خپل احساس په درته څهٔ وایمه
ستا دَ ساګانو دَ ورېمو نامه ده

❁ ❁

چې منډې تر ړې هنګامې جوړې شي
څوک بې ګناه پکښې په سر اوړي
لا رو کو څو کښې ورغلې مهٔ ګوره

❁ ❁

تورو شپېلو نه چې لوګي پورته شي
ویره که ورځې دَ وادهٔ ده ګني
زما یاران ما په پالنګ خښوي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



جوړ په دې کلي کښې سړي نښته دے
چې د چا څه زړه غواړي هاغه کوي
چرګه بانګ اووائي، چرګ ها واچوي

❁ ❁

زما سندرې خوندي کړي دي چا
ځان نه بلا په فاصله پروت یمه
راته نژدې نه شې میراته یه شې

❁ ❁

زه په خپل ځان کښې راتولیږمه نه
ته دې جوړ خوب د پېغلتوب اولیده
ستا په بدن کښې ستا جامې تنګې شوې

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دَ حاسدانو په زړهٔ اور بلوه
کوروبه، هر څهٔ چې وي، غم مهٔ کوه
او خاندهٔ کلکه راتر غاړه وځه

❀ ❀

دا دَ قیامت ورځه چې هم نهٔ ده نو
چا جوړې زمکې ته خبرې کړې دي
کنې نو میاندې خېل چې ولې خوري

❀ ❀

ستا دَ پېغلې بو شرنګ چې واورمه نو
په نیمه شپه دَ کټ نه پاسمه زهٔ
او دَ چینې غاړې له ځان رسوم

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دې کښې زۀ يو منطق هم نه منمه
او منه دا به زما وهم وي خو
زۀ هندوانې سره شوملې نهٔ خکمه

❁ ❁

دَ سامرۍ نسل او سېنږي دلې
که يې په خپلو سترګو هم اووينې
دَ ښخې اواز پسې به غوږ نۀ اورې

❁ ❁

دنګې څوانۍ دې دَ اسمان څوکه کړم
چې ابوالهول ته مخامخ شومه زهٔ
نو ستا عظمت راته راوړاندې شولو

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



حُسن په پاڼو کښې رانغاړمه نه
ستا تصویرونه په ګلدان کښې بندومه
څه لېونی زړهٔ په البم څهٔ کوم

دا خوب به نهٔ وینې چې ښکېل یې شمه
له څانګې څانګې چې مې الوځوې
یوه مرغۍ یم پوره سېل به شمه

زنځیر موګې، موګې زنځیر اوخوړهٔ
تعبیر مې خوب، خوب مې تعبیر اوخوړهٔ
نن دې وېښو رانه تصویر اوخوړهٔ

Scanned by CamScanner

راځه که ځې ګنې په مخه دې ښه
دومره مې زور په زړهٔ کښې پاتې نهٔ دے
چې اوس به زهٔ تا ته جولۍ نیسمه

❁ ❁

په خط کښې لیکې جوړې هره دې کړم
بلا زورلے یم دَ مینې تبې
راشه زما دواړه وخکې اووتل

❁ ❁

ته په خوراک کښې ولې خیال نهٔ کوې
لا خو دِ شپږ میاشتې هم نهٔ دي شوې
ستا دَ وادهٔ جوړه په تا تنګه شوه

ketabton.com - The Digital Library



ستا په جولۍ کښې به خوابۀ دراولم
دا ستا ځوانۍ که د صحرا تنده شي
نو زۀ به اوښه د کجورې شمه

څۀ که یې ځلې کړه د ژوندون حادثو
زمونږ ه زمکې، اسمانونه بیل دي
تاسو خیرات غواړئ مونږ مینې وېشو

راسره دومره مینه هم مۀ کوه
څوک چې له کوره په سفر اوځي نو
بیا په مړه ګېډه خوراک نه کوي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



شیرینې ډېر زر به واپس راشمه
داسې ښېو کښې اوښکې مه څلوه
دَ اسمان ستورې درنه غلا اونکړې

✿ ✿

مینه تر مېنځه فاصلې ورکوې
چې دَ پېښور لوېې ځمکښې ساه واخلمه
ستا دَ یدن وږمې مې څان سره وړې

✿ ✿

کټه په هر حال کښې هم ستا برخه ده
ټول عظمتونه دَ اسمان لاندې کړې
چې ستا رابرند بانهٔ وسله غورځوې

Scanned by CamScanner

مینه دَ ژوند هره تیاره تمبوي
ستا دَ نظر مسکې مسکې پلوشې
ما ته په لار کښې اورګې پرقوي

❀ ❀

دلته دَ وینو سیلاب ولې راشي
ددې وطن وږمه وږمه خاوره خو
مدام ګلونه دَ چامبېلي ټوکوي

❀ ❀

ته دَ ګلاب دَ ګل بڼا ئُست ستایه خو
ستا اننګې ځې پرخه پرخه شي نو
داړه سپېرلي درته په خپو پرېوځي

ketabton.com - The Digital Library



ستا اواره زلفې چې تک ورکړې نو
ډک شي له زهرو نه وجود د هوا
بیا چې څوک ساه اخلي نو سا ترې اوځي

❁ ❁

د ډېر شر پسنده ځنګیالي خلق دي
اوس که له تندې مرمه مړ دې شمه
خو زهٔ د دې کلي اوبهٔ نهٔ څکمه

❁ ❁

زهٔ بې ګناه چا سره جېړه نهٔ کوم
تا که لګې ببره کړې نهٔ وه
نو دا ګرېوان به دې شلېدلے نهٔ وے

Scanned by CamScanner

ستا دَ بدن خوَله دې اوبهېږي
ښه که اسمان درباندې اور وروي
خو ـ ځ پوهړ به رانه پورې نکړې

❁ ❁

را پورته کېږه چې اننګي ته اوځو
راځه باران دَ پشکال ورېږي
که مو ګرمۍ دَ بدن ماتې شي

❁ ❁

ته خفه کېږه مه شیرینې زما
که دا ژوړې په ما خولې ګکوي
دَ بدن وینه به صفا شي زما

ketabton.com - The Digital Library



دَ دومره پېغلو دَ زړهٔ سر يمه زهٔ

که دَ يوې نامه مې هم واخسته

ستا دَ تصوير نه به لمبې پورته شي

❁ ❁

چاسره وخت کوم دے چې مونږ اووينې

ټوله دنيا دَ ځان په غم اخته ده

راځه بلبلې راتږ غاړه ووځه

❁ ❁

دَ اسمان ستورې راته غوږ کښې وائي

په خپلو سترګو کښې ئې خال دے ځکه

زما په سينه لمن داغ لګوي

Scanned by CamScanner

ما دومره ښکلې جینۍ نه وه لیدې
زه هم انسان یم اخر زړه لرمه
خطا مې نه وه که خطا شومه زه

❀ ❀

د محبت بلا چلونه راځي
خو د پښتون کور کښې پیدا یمه زه
د پېغلو ژوند بربادولې نه شم

❀ ❀

مینه مو نه پرېږدي د شپې تیاره کښې
که د اوبو په لاښ کښې هم ناست یو خو
راپسې ستوري او سپوږمۍ رازغلي

ketabton.com - The Digital Library



تا که ستنې کړې پېلوشې د نظر
زړه به زرغون نه کړې د ژوند فصلونه
بیا به په دې للمه باران اونه شي

❁ ❁

ارمان په غېږ کښې د ارمان ورک شولو
مانه د لاس کړېښو کښې ځان ورک شولو
د زړه درزاء پسې مې لاره چرته شم

❁ ❁

زما لباس په ما کښې تنګ خو نه دے
ژوند د نولي او د مارجنګ خو نه دے
کېږ به تر څو په دې فریب کښې یمه

Scanned by CamScanner

دَ کیټس سندرې اوریدلې دي ما
ما دَ غالب شاعري هم لوستې ده
ستا دَ یوې خندا جواب نهٔ لري

❁ ❁

دَ ژوند صحرا کښې دَ ښائست میرمنې
تا چې په کومه لار دمه کړې ده
ترېنه روانې دي چينې دَ مينې

❁ ❁

دَ ابېنې په مخ سرخي چرته وي
چې دا شفق شفق ګلونه سپرې
دا پرې هم ستا دَ انګو سپورې دي

ساده جینۍ ده وائي مه ویرېږه
ستا نه خوږه ژبه زړه وره یمه
په هېڅ نه چې دا مې څه اوویل

❁ ❁

دَ پېغلتوب مستۍ دې ډوبه نهٔ کړي
دا خو بڼې چا سره ګېږ نهٔ اولي
دَ سمندر اوبو ته ټوپ مهٔ وهه

❁ ❁

ماتې پیسې چې جیب کښې نهٔ لرې نو
ځان داسې مخکښې مخکښې هم مهٔ کوه
ګنې نو لوټې به درله مات کړمه زهٔ

ما پکښې عکس دَ لېونتوب اولیده
سوچ کښې مې ورکه شوه دَ ژوند اینُه
زهٔ چې بیدار شمه، ما خوب اولیده

❁ ❁

حُسن په هر ماحول کښې خیال ساتي خپل
چې فرښتو ترې لاس نیوے کړے دے
اُ کمل ماله دَ هسپتال نرسه ده

❁ ❁

سپوږمۍ که تا خپله هاله ماته کړه
اسمان ته وایه لاړې ډوب ئې کړې
ستورې دَ سیند تل کښې هم سترګې وهي

څهٔ ازمېښتونه يې دَ ژوند دانيسي
کښې نو زړهٔ نه يې لمبې پورته شي
مور چې دَ تې نه خپل ماشوم پرېکوي

❁ ❁

ستا دَ نظر مستۍ لا هو نه کړې، ما
زړهٔ کښې مې مينه غورځنګونه کوي
او سمندر سره روان يمه زهٔ

❁ ❁

غاوره پېغله خپل غرور ډوبه کړه
چې لېونې سپې خوله ورواچوله
اوس يې په ګېډه کښې کوترې شوې دي

ketabton.com - The Digital Library



سرهٔ لوېته دي په ما مهٔ غوړوه
وېښ پزم مانه چرته هېڅوک نهٔ شي
زما نظر څه سېلاب غونډې دے

❁ ❁

څنګ اخترونه شي چاپېره له ما
دَ صائمې دَسترکو پرېږدي واخلي
روژه کښې سيد الابرار شوي دے

❁ ❁

ته په ماښام کښې دَجنت مېشته يې
دَ ناعمه خندا ته پام اوکړه لږ
خيل ځان ته زړهٔ کښې فرښتې ښخوي

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



بېرته د کور دروازه مه ساته اوس
نوې فتنې ترې رابرخېږه نه شي
بيا چا په زمکه کښې غنم اوکرل

❀ ❀

راګوره مه دا به احسان وي په ما
ادا کوي به څوک ددې کفاره
ستا په کتو زما روژه ماته شوه

❀ ❀

بيا به زه تا سره په سيل نه اوځم
تا د وړې کمبل کښې اونغښته ځان
واوره په ما تمامه شپه ورېده

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



دا نهٔ چې زهٔ ورته کتے نشم ، خو
میاندې که خیال دَ خپل ناموس ساتي نو
بیا دې زامنو له وادهٔ نهٔ کوي

❀ ❀

زهٔ دَ رومان یوه سندره یمه
زما دَ ژوند په هره لار الوځي
څرخکې ، زانې ، لوګکه ، بلبلې

❀ ❀

ستا دَ انصاف شمله راټیټه مهٔ شه
خو اوس په دې کښې به څوک څهٔ اووائي
لیوانو مات کړل دَ هوسو بچوړي

Scanned by CamScanner

مونږ یې حقونه په سر ستر ګومنو
خو ښځې نهٔ سپارو طوفان ته د ژوند
څوک د هوسې په اوږو بار نهٔ اوړي

❁ ❁

ما چې پرې ټول عمر خپل ځان خوړلو
لکه ببره کړې چې ما اووینې
کرسې کښې تاؤ شي رانه ځنې واړوي

❁ ❁

هغې به دې لاس کښې برکت رانشي
د پلار په ځنې چې لګېدلې یې ته
یاد یې ساته څوک به دې ځنې نهٔ کوي

سر مې قلم نه کړي منصف د وطن
د ګلو لښته چې راغاړه وته
اوس مې په ساه ساه کښې وږمې دي د ګل

❀ ❀

ته د هاتهي غوږ کښې اوده ولې ئې
چې په لستوڼي کښې ماران ساتې نو
ځان به ستا په خود کښې اوښکېږي

❀ ❀

چا ئې د زړه درزا لېدلې نه ده
ا شازادګۍ قرانګو ما يادوي
بډدي چې په تاج کښې د طاوس وزرې

ketabton.com - The Digital Library



اومنه دا ډېره سپېره لوبه ده

بيا به هم تاته د زوند لارې نيسي

خپلو بچو سره شطرنج مه کوه

دومره په مينه مينه مه راګوره

لاسې نه ورانه ترېنه سازه نه شي

ښځې زما توره کښې زنګ نښته دے

د بدمعاشانو ښار دے غږ مه کوه

که کمزورې ښايم نو مړ به مې کړي

تورېده مې ځکه په چمبا ايښې ده

Scanned by CamScanner

ketabton.com - The Digital Library



# دشاعر چاپ کتابونه

۱) دَ رڼا سپوږمۍ ، پښتو شاعري ، ۱۹۹۱ء

۲) ہم اینٹوں کے قیدی ، اردو شاعری ، ۱۹۹۳ء

۳) ستړګو کښې خوب دَ کودرپاتې نهٔ شو ، پښتو شاعري ۱۹۹۶ء

روپیے ایوارډ یافته چاچا کریم بخش ایوارډ ۱۹۹۶ء

۴) راته غوږ ونو کښې ښکرې شرنګوي ، دَ پښتو هایکو مجموعه ، ۱۹۹۸ء

۵) گرفت ، اردو شاعری ، ۱۹۹۹ء

۶) کاڼي دَ ګل په لاس کښې خوندنهٔ کوي ، دَ پښتو هایکو مجموعه ، ۲۰۰۰ء

۷) اوازونه او دایرې ، پښتو تنقید ، ۲۰۰۱ء

۸) په ساحل دَ نظر ، پښتو شاعري ، ۲۰۰۲ء

۹) ستا دَ خوانۍ تصویر په خوب اوده دے ، دَ پښتو هایکو مجموعه ، ۲۰۰۳ء

# چاپ ته تیار

۱) رضا ہمدانی احوال و آثار ، اردو تحقیق (پی۔ ایچ۔ ڈی مقالہ)

۲) نیا اور پرانا غالب ، اردو تنقید

۳) هایکو او پښتنه هایکو ، تنقید و تحقیق ۔

Scanned by CamScanner

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*